٦٧٦

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۱۹مه ګڼه، د ۱۳۹٦ لمریز کال د اسد ۲۱مه د ۱۴۳۸ هـ ق ذوالقعدې ۲۰مه د ۲۰۱۷م د اگست ۱۲مه

به جای انتقام
پالیسی را عوض کنید

جرایم جنایی
معضل روبه گسترش در شهرهای بزرگ کشور

په کورنیو ستونزو هوارولو کې
د خاوند مسؤولیتونه!

د الله تعالی بنده‌ګان

ځانګړتیاوې او پایلې

الله جل جلاله په سورت الفرقان کې د خپلو بنده‌ګانو ځانګړتیاوې په لاندې ډول بیانوي:
بندګان دالله هغه کسان دي چې..

لومړی: پر زمکه باندې ورو (په تواضع) ګرځي او کله چې له ناپوهانو سره مخامخ شي، نو په سلامتي سره تېرې ځان خلاصوي (له هغوی سره نه خبرې سپینوي او نه ورسره جګړه کوي)،

دویم: شپه الله جل جلاله ته په سجده او عبادت (قیام) کې سبا کوي،

دریېم: سره له دومره عبادته د دوزخ له عذاب څخه پناه غواړي. واقعیت دا دی چې د جهنم عذاب لازمي او همیشنی دی (هیڅ خلاصی ترې نشته) او دوزخ د اوسیدو ډیر بد ځای دی،

څلورم: د مال په لګولو کې نه اسراف کوي او نه تنګي، بلکې د دواړو تر منځ د اعتدال لار غوره کوي (خپل مال بې‌ځایه نه لګوي او نه د مال په محبت کې له حده تېریږي او نه یې ضایع کوي)،

پنځم: له الله سره بل څوک شریک نه نیسي او نه داسې یو نفس وژني چې الله یې وژل حرام کړي دي، خو په حقه سره (مثلا د مرتد او محصن زاني وژل او نور) او نه زنا کوي،

که چا له دې درې لویو ګناهونو (شرک، قتل یا زنا) یو هم وکړ، د خپل کار سزا به وګوري. بیا به یې په قیامت کې الله جل جلاله سزا دوه چنده کړي، او په دوزخ کې به تل پاتې شي، پداسې حال کې چې خوار او ذلیل به وي.

خو هغه کسان چې وروسته له ګناه توبه وکړي او ایمان راوړي (له شرک او کفر څخه) او ښه کارونو ته مخه کړي، الله جل جلاله به یې ګناهونه په نیکیو بدل کړي او الله جل جلاله بښونکی او مهربان دی.

او هر څوک چې توبه وباسي او ښه کارونه وکړي په حقیقت کې یې د الله جل جلاه په لور ورګرځي په ګرځیدلو ښو سره. یعنې پخوا د هغو کافرانو د ګناه یادونه وه چې وروسته ایمان راوړي دلته د هغو ګناهونو ذکر دی چې سره له اسلامه یې سړی کوي، کله چې څوک به پوره اخلاص توبه وکړي او نوموړی کار بیخي پریږدي الله جل جلاله یې توبه قبلوي،

شپږم: نه دروغ وایي او نه د دروغو شاهدي ورکوي او نه د باطلو چارو او د ګناهونو په مجلسونو کې برخه اخلي،

اووم: کله چې د الله جل جلاله د ایتونو ذکر ورته وشي، ځانونه کاڼه او ړانده نه اچوي، بلکې سر په سجده ږدي، په غور یې اوري او عمل پرې کوي،

اتم: له الله جل جلاله څخه د داسې ښځې او ماشومانو (کورنۍ) دعا کوي چې په لیدو یې سترګې یخې شي. طبیعي ده چې د مومن زړه هغه مهال خوشالېږي چې خپله کورنۍ د الله جل جلاله په طاعت او عبادت کې وګوري.

د الله جل جلاله بندګان د دې دعا هم کوي چې د متقیانو لپاره امامان وي. یعنې د ټولنې اصلاح غواړي او د خلکو په روزلو کې هڅه کوي.

پایله: دغه کسان (دالله بنده‌ګان) چې د یادو شوو ځانګړتیاوو لرونکي دي، دوی به ولمانځل شي په مانیو هسکو د جنت په سبب د هغه چې صبر یې کړی و او پر دوی به درود او سلام وي. ټل به وي دوی په دغه جنت کې او دا جنت د اوسیدو ډیر ښه ځای دی.

محمد مدثر اسلامي

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

کابل: تایمنی، چهارراهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲
کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲
کابل: شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹
کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر
کابل: کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹
کابل: ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی
کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲
ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سړک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون:۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰
ننگرهار: جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون:۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱
کندهار: نوی بنار، د هرات سړک، د سرې جامع غرب طرف ته سورې مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳
لغمان: مهترلام بنار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹
هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۹۰۰۸۱۵۲ - ۰۴۰۲۳۷۰۱۲
بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵
کندز: شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴
بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷
لوگر: محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵۴۳۸۷۶
لوگر: مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰۴۴۹۸۸۱
پکتیا: دګردیزبنار، مرکزی چوک ، دنی نمایندګی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲
خوست : افغان ټاور، شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ډاکټرمحمد ګلاب:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶
تخار: آموزشگاه علمی رسالت- واقع چهار راهی تیل فروشی- تیل فروشی سابقه. ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲
بدخشان: فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸
زابل: قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶
فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱
نیمروز: سرک ولایت ، نارسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشی: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضای هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
عزیزاحمد حنیف
وحید الله مصلح
عبدالوهاب هائد

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

سرمقاله

به‌جای انتقام پالیسی را عوض کنید

کشتن و به آتش کشیدن، از سال‌هاست که تجربه‌های تلخ و هول‌ناک مردم افغانستان را تشکیل می‌دهد؛ کشته شدن هزاران هزار انسان درین جغرافیا، به آتش کشیده شدن خانه و کاشانه‌ی این مردم، تجاوز و ظلم و زور، وحشت و بربریت درنده خویی نوع انسان، از سیاه‌ترین صفحات تاریخ این سرزمین است. چه بسا جفا و مظالمی که بر این مردم رفته است و تا اکنون هم ورقی از آن بالا نشده و چه تبه‌کاری‌های که توسط دشمنان سوگند خورده‌ی خدا و پیامبر برین مردم روا داشته شد؛ اما فرصت پاسخ جویی و پاسخ گویی آن تا اکنون میسر نشده است.

از کودتای کمونستی تا اینـدم، هر روز خون می‌ریزد، هر روز مادری در سوگ فرزند می نشیند، هر روز فرزندی یتیم می‌شود و هر روز، بهترین فرزندان این سرزمین، روانه‌ی قربانگاه می شوند و در بلا تکلیفی عجیبی، سر به دم تیغ می سپارند.

رئیس جمهور کشور، هفته‌ی گذشته، طی بیانیه‌ای در پیوند به قتل عام ۵۲ تن از هموطنان بی دفاع ما در میرزاولنگ، اظهار داشت که انتقام خون ایشان را از مخالفان مسلح می‌گیرد؛ هرچند انتقام هم در جای خودش رد کردنی نیست؛ ولی در طول چهل سال گذشته، هزاران انسان این سرزمین، در هرجنگی از هر دو جناح، عمدتاً به غرض ا نتقام کشته شده اند، انتقامی که تا اکنون نقطه‌ی پایانش متصور نیست و روزانه به تعدادش افزوده می‌شود.

انتقامی، که از سیاست‌های نادرست و غیر مسؤولانه‌ی زمامداران این کشور و مخالفین مسلح آن در هر مقطع تاریخی نشأت کرده و نسل اندر نسل، بر بن حیات بهترین فرزندان کشور، آتش نیستی ریخته است. تاریخ به ما نشان داد، که هرچه کشتند و کشتیم، نه چیزی از خشونت و ظلم و سیاهی کم کرد، نه قدری از ظلم و زور و اختناق کاست و نه هم به سلسله‌ی کشتارها خاتمه داد.

هرچند، باتوجه به آنچه درین کشور می گذرد و در مواضیع و واکنش‌های دولت‌مردان این ملک دیده شده است، این حس انتقام و تقبیح و نکوهش، همه جز شعار و ابزار دفع احساسات چیزی نیست و زمامداران افغان، خیلی کمتر اتفاق افتیده است که به آنچه می گویند، عمل کنند؛ ولی بآنهم، کشتار و قتل عامی که توسط مخالفان مسلح در هرجای و به ویژه در میرزاولنگ صورت گرفته است، قابل تقبیح و نکوهش است.

بنا برین، آنچه از شرایط بر می‌آید، دیگر انتقام (قتل پس از قتل) در جبهات جنگ، نتایج چندانی را برای رفاه و نظم و امنیت مرتب نمی کند و فقط این سوهانی‌ست که بر لبه‌ی کند شمشیر حریف کشیده می‌شود و آن را تیز و بران تر می‌سازد. ازین رو، حالا وقت آن است تا آقای رئیس جمهور، بجای انتقام گیری، پالیسی اش را عوض کند که دیگر نه ملت بیچاره را قربانی ندهد تا بعد از هر قربانی و قتل دسته جمعی فریاد انتقام گیری سر دهد.

گره کار این ملت توسط خودش باز می‌شود، نه توسط همسایه‌ها و خارجی‌ها؛ حالا بهتر است تا حکومت داران نیز، به دنبال راه حل مردمی برایند، و زمینه‌ی صلح و مذاکره را در مشوره با مردم در پیش گیرند. بجای اینکه با سیاستهای نا درست، دست و پای مردم را ببندند، حق تصمیم گیری به مردم را بدهند، از مداخلات بیرونی‌ها از طریق مجامع بین المللی عذر بخواهند، به حضور مخرب زیان بار نیروهای خارجی در کشور، ضرب الاجل خروج زود هنگام در نظر بگیرند و حق تصمیم گیری برای آینده را به مردم برگردانند.

زیرا با همه جور وجفایی که در طی سالیان متمادی برین ملت گذشت، باز هم ملت مسلمان ما، غرور و عزت و آزاده‌گی را مهم‌تر و ارزشمندتر از هر چیزی می‌پندارند و برای اعاده و حفظ آن، هرگونه بهایی را در هر فرصتی پرداخته اند و می‌پردازند و باز هم این ملت آماده است، کلید جدیدی را برای گشودن قفل موجود و برامدن از وضعیت اسفبار کنونی به تجربه بگیرند.

په افغانستان کې د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې: موخې او پایلې!

اصلاح رسنیز ګروپ/ نعمت الله عزیزي

داسې ویل کېږي چې د افغانستان لویدیځ ګاونډي هېواد -ایران- په وروستیو کې په افغانستان کې لاسوهنې زیاتې کړی دي او څو ورځې وړاندې د دې هېواد د ځواکونو د قومندان ځای ناستي امیر احمد رضا پوردستان په یوه مرکه کې ویلي ؤ، چې افغانستان او عراق د زمکې او هوا له لارې تر څار لاندې دي او د افغانستان په درې ولایتونو کې ښه استخباراتي امکانات لري.

په افغانستان کې د ځینو نورو ګاونډیو هېوادونو په څېر ایران هم هغه هېواد دی چې هڅه کوي په افغانستان کې د دوب پر خوښه او تر لاس لاندې دولت شتون ولري، هغه څه چې تر اوسه هم د هیڅ ګاونډي او آن زبر ځواکونو دا آرمان نه دی پوره شوی.

په افغانستان کې له تېرو څلورو لسیزو روانو جګړو د دې هېواد هر څه ویجاړ او بهرنیو او ګاونډیو هېوادونو ته یې د لاسوهنو زمینه برابره کړې ده. پاکستان په افغانستان کې خپل لاسپوڅی دولت غواړي او د هند له زیاتیدونکي نفوذ ویره لري، خو ایران بیا په سېمه او او منځني ختیځ کې د خپل نفوذ او واک د زیاتیدو په خاطر او د افغانستان د بې بیې اوبو څخه د تل لپاره د ځان په ګټه د کار اخیستلو لپاره په افغانستان کې په لاسوهنو، نا امنیو رامنځته کولو او د وسلەوالو مخالفینو پر ملاتړ تورن دی. سره له دې چې د افغانستان او ایران تر منځ د اوبو ستونزه د افغانستان د وخت صدراعظم موسی شفیق او ایراني سیال تر منځ د قرارداد پر بنسټ حل شوې ده، خو په افغانستان کې د جګړو او نا امنیو دوام ایران ته د هلمند رود له اوبو څخه له خپل حق د ډېرو، بلکې د یو اړخېز استعمال زمینه په لاس ورکړې وه، خو اوس مهال چې افغان حکومت له خپلو اوبو د ګټې اخیستنې لپاره ژمن شوی دی، ایران یې هم وارخطا کړی دی.

بلخوا په سیمه کې له دې ګډوډیو په ګټې سره امریکا او نور هېوادونه هم په افغانستان کې د دایمي شتون پلانونه پلي کوي، چې دا نه د افغانستان او نه هم د ګاونډیو هېوادونو او سیمې په ګټه ده.

دا چې ایران په افغانستان کې د لاسوهنو په زیاتولو سره څه موخې لري او څه غواړي؟ د لویدیځو ولایتونو تر څنګ په شمالي ولایتونو کې په ګډوډیو کې لاس‌لرنه او په ټوله کې د ایران لاسوهنې څه پایلې درلودلای شي او افغانستان څنګه کولای شي د مداخله ګرو هېوادونو او ګاونډیو په منځ کې آرام و اوسي؟ دا او ځینې نورې پوښتنې مو له شنونکو او کارپوهانو سره څېړلې چې دلوستلو بلنه یې درکوو.

ایران څه غواړي؟

د سیمه‌ایزو او ستراتیژیکو څېړنو مرکز مشر، دکتور عبدالباقي امین وایي: په خواشینۍ سره افغانستان د ډېرو هېوادونو د لاسوهنو ډګر ګرځیدلای دی او افغان حکومت په دې نه دی توانیدلای چې د بهرنیو مداخلو مخه ونیسي. که امریکا ولیدل شي وایي چې خپل عسکر زیاتوو، خو شمېر یې هم معلوم نه دی او آن چې له افغان حکومت سره مشوره هم نه کوي، خو دا بیا مداخله نه ګڼل کېږي، مګر نورو مسایلو ته داسې ځېر وي چې دا لاسوهنې دي. نوموړی ټېنګار کوي چې افغان حکومت ته په کار ده چې په افغانستان کې ټولې بهرنۍ لاسوهنې بندې کړي او د ګاونډیو او سېمې هېوادونو سره اړیکې درلودل د افغانستان اړتیا ده او حتا له امریکا هم افغانستان لپاره ګاونډیان مهم دي.

ښاغلی امین همدارنګه تاکید کوي، چې باید د هېوادونو تر منځ اړیکې مثبتې او ښې وي او په دې اساس چې هر څوک حق لري د نورو د حقوقو په نظر کې نیولو سره له خپلو امکاناتو په داسې شکل چې د هېواد مصالح یې غوښتنه کوي ګټه پورته کړي، لکه د افغانستان د اوبو مسئله چې ایران باید په دې پوه شي چې افغانستان هر ډول اختیار لري، خو د دوی حق هم باید زیانمن نه شي.

د سیمه‌ایزو او ستراتیژیکو څېړنو د مرکز د مشر په وینا، له پاکستان او ایران سره اړیکې او مسایل د حساسیتونو لور ته بول د افغانستان په ګټه نه دي.

له بل لوري په ولسي جرګه کې د هرات د خلکو استازې رحیمه جامي هم وایي: د خلکو خبرې شته چې ویل کېږي اوس مهال ایران له وسله‌والو ملاتړ کوي، مګر کوم اسناد شتون نه لري. آغلې جامي په افغانستان کې د ایران د لاسوهنو د زیاتیدو د لاملونو په هکله زیاتوي: ایران له امریکا سره ستونزې لري او له کله نه چې امریکا افغانستان ته راغله نښې نښانې داسې وې چې ایران به د امریکا د ناکامولو لپاره لاس په کار شي.

د هرات د خلکو د استازې باور لري، دا چې ایران په سوریه کې هم نظامي او استخباراتي شتون لري او په جګړه کې ښکیل دی، خو په هغه ډول په افغانستان کې پوځي شتون نشي درلودلای خو د امریکا لپاره د ستونزو رامنځته کولو لپاره په استخباراتي ډول خپل نفوذ لري.

همدارنګه آغلې جامي زیاتوي: دا چې افغانستان په تېر کې په هېڅ باندې هم کنټرول نه درلود، نو اوس چې دا چانس برابر شوی چې تر یو بریده خپلې اوبه کنټرول کړای شي چې دې کار ایران پارولی او حتمي خبره ده چې ایران د دې پر وړاندې بې تفاوته نشي پاتې کېدلای.

د هرات د خلکو د استازې همدارنګه په وروستیو وړځو کې د افغان ولسمشر څخه د ایران سوړ استقبال هم د دواړو هېوادونو تر منځ د اوبو له مسئلې، د امریکا پوځي شتون او داسې نور سره اړیکه درلودونکې ګڼي.

په افغانستان کې د ایران لاسوهنې او پایلې:

له ایران سره د افغانستان په ځینو سرحدي ولایتونو کې د افغان حکومت له وسله والو مخالفینو د ایران د ملاتړ خبرو له ډېر وخت راهیسې شتون درلود، خو څو وروځې وړاندې په سرپل کې هم ایران په غېر مستقیم ډول د دې ولایت په نا امنیو کې په لاس لرلو تورن شو، دا چې د افغان حکومت مخالفین د ایران په شان نوی ملاتړی او مرسته کوونکي پیدا کوي، افغانستان ته یې پایلې څه کېدای شي؟

د سیمه‌ایزو او ستراتیژیکو څېړنو مرکز مشر دکتور عبدالباقي امین بیا هم وایي: «افغانانو ته دا مسؤولیت راجع کېږي چې خپلو منځونو کې سره جوړ شي او نور د بهرنیانو لاسوهنو ته ځای پرې نه‌ږدي، ځکه -په خواشینۍ سره- اوس مهال افغانستان د بهرنیو د حسابونو د تصفیې ډګر ګرځیدلای دی، خو افغانان دی چې وژل کېږي، کور یې ورانېږي او ملي اقتصاد یې زیان وینې.»

نوموړی وایي، چې که چېرې افغانان په خپل منځ کې سره جنګېږي، نو معلومه خبره ده چې ځینې هېوادونه به ورته مرستې ورکوي، ځکه چېرته چې داخلي جګړې شتون ولري، ډلې او ټپلې به ځینو هېوادونو ته ورځي او مرستې به ترې اخلي او د هغو هېوادونو ګټې هم په دې کې دي چې له یو اړخ څخه ملاتړ وکړي، چې په دغسې حالت کې بیا د بهرنیو لاسوهنو بندول نا شونی کار دی.

په ولسي جرګه کې د هرات د خلکو استازې رحیمه جامي وایي: دا چې د طالبانو یوه برخه ایران ته نږدې شوې ده نو ایران هیڅکله نه غواړي چې افغانستان د امریکا او ځینو نورو هېوادونو لپاره د ټوپ وهنې تخته وګرځي او خپلې موخې د ایران پر وړاندې ترلاسه کړي.

آغلې جامې زیاتوي: د همدې لپاره چې امریکا د ایران پر وړاندې خپلې موخې ترلاسه نه کړي، ایران د طالبانو یو ډله -چې د آغلې جامي په خبره د کرایه شویو او مزدورو کړیو په ډول د هغه چا لپاره کار کوي چې امتیازات ډېر ورکړي- د هغه څه پر وړاندې چې ایران نه غواړي په افغانستان کې د امریکا له لوري ترسره شي، تر خپل ملاتړ لاندې نیولې تر څو د امریکا پر وړاندې ودرېږي.

د هرات د خلکو د دې استازې په وینا: سره له دې چې له دې وړاندې هم ستونزې موجودې وې، خو له د حکومت له وسله‌والو مخالفینو د ایران ملاتړ به دا ستونزې نورې هم ډېرې کړي.

حل لاره څه ده؟

څنګه کېدای شي له ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان ستونزې حل کړل شي او په ټوله کې له افغانستان څخه د دې هېوادونو لاسونه لنډ؟

د سیمه‌ایزو او ستراتیژیکو څېړنو مرکز مشر، دکتور عبدالباقي امین وایي: دا ډاډ شتون لري چې تر اوسه پورې هم د افغانستان خاوره د ګاونډیو هېوادونو پر ضد نه ده استعمال شوې او که چېرې دلته یو قوي مرکزي حکومت شتون ولري، دا ستونزې لا هم کمېږي، ځکه که افغانانو جګړې هم کړې دي په خپل هېواد کې یې کړې، نه یې بهر ته وسلې وړې او نه یې هم په نورو هېوادونو کې عملیات کړي دي.

خو د ښاغلي امین په وینا، له ډېرو خلکو سره دا اندېښنې شته چې په افغانستان کې د امریکا شتون د جګړې مدیریت لپاره دی او غواړي په سېمه کې خپلو موخو ته ورسېږي، مګر دا د بهرنیانو اراده ده نه د افغانانو.

په ولسي جرګه کې د هرات د خلکو استازې رحیمه جامي هم وړاندېز کوي، چې افغانستان باید هڅه وکړي چې هیڅکله د نړۍ لپاره او د هغوی د موخو ته د رسید لپاره د ټوپ وهنې تخته ونه ګرځي، تر څو نه ایران او نه هم د منځنۍ آسیا هېوادونه زیانمن شي.

آغلې میرمن جامې ټینګار کوي، چې افغانستان باید له نړۍ سره داسې پریکړې ته ورسېږي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې په نامه، له دې ځایه د جګړې او لاسوهنو ډګر مه جوړوئ او باید زمونږ ګاونډیان زیانمن نه شي، ځکه تر څو چې نړۍ شته افغانستان د ایران ګاونډي دی، نو د دې پر ځای چې په اختلاف او دښمنۍ کې ژوند وکړو، دا به ښه وي چې په ښه نیت سره وخت تېر کړل شي.

د یادولو وړ ده چې د غور د ولایتي شورا رییس فضل الحق احسان د روانې میاشتې په دریمه نیټه له آزادۍ راډیو سره په خبرو کې وویل چې طالبانو د ایران په مرسته خپل تحرکات زیات کړي او د هغه هېواد له خوا پوځي مرستې ترلاسه کوي.

جرایم جنایی

معضل روبه گسترش در شهرهای بزرگ کشور

مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی

بربنیاد آمار ارگان‌های احصائیوی، سالانه هزارها جرایم گونه‌گون جنایی در تمام ولایات کشور به خصوص شهرهای بزرگ کشور رخ می‌دهند که ارائۀ تصویر واقعی آن بدون یک تحقیق عمیق و همه‌جانبه ممکن به نظر نمی‌رسد. شهر کابل از شهرهای امن کشور به شمار می‌رود و میزان بلند جرایم جنایی در این شهر، نشانگر آن است که کشور ما از این ناحیه با چالش بزرگی روبه‌رو است.

مقام‌های امنیتی از کاهش میزان جرایم جنایی نیز سخن می‌گویند، ولی برخی آمار و حقایق زمینی حاکی از میزان بلند جرایم شنیع در کشور، به خصوص شهرهای بزرگ کشور می‌باشد. در کنار ادعاهای مردم، مکان، زمان و نوعیت بعضی رویدادهای جرمی نیز نشان می‌دهد که منسوبین نهادهای امنیتی، به دلیل سطح بلند فساد اداری در این نهادها، به نحوی در این حوادث جنایی دخیل اند.

آمار دقیق رویدادهای جنایی در کشور موجود نیست، چون بربنیاد یک سروی ایشیا فاوندیشن گزارش‌های نیمی از چنین رویدادها (۴۹٪) به مراجع دولتی نرسیده و ثبت نشده‌اند. از سوی دیگر آماری نیز که ارائه می‌گردد دقیق به نظر نمی‌رسد و توسط نهادهای معتبر تایید نشده‌اند، ولی با آن‌هم آمار رسمی حاکی از گسترش این معضل در کشور است.

در این تحلیل سیر صعودی حوادث جرمی در شهرهای بزرگ کشور، عوامل این جرایم و راه‌حل‌های کاهش جرایم جنایی در کنار بیان چند حادثه‌ی که در طول چند روز تنها در شهر کابل رخ داده و محققین مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی به جزئیات برخی آن‌ها دست یافته اند، مورد بررسی قرار گرفته است.

سیر صعودی جرایم در شهرهای بزرگ

در یک دهۀ اخیر میزان جرایم ثبت شدۀ جنایی در افغانستان سیر صعودی داشته است. شمار مجموع جرایم در سال ۱۳۸۷ به ٦٧٨٦ مورد می‌رسید، ولی این رقم تنها در سه ربع اول سال ۱۳۹۵ به ١٦٠٤٦ مورد رسید که نسبت به یک سال قبل (۱۳۹۴) نیز افزایش چشم‌گیر را نشان می‌دهد، چنانچه در سال ۱۳۹۴ هـ ش جمعا ١٤٦١٩ حادثۀ جنایی به ثبت رسیده بود. هرچند در برخی سال‌ها، این رویدادها به گونۀ بی‌پیشنه‌ی افزایش یافت و به عنوان مثال، تنها در سال ۱۳۹۲ تعداد مجموعی جرایم مختلف در کشور به ۲۷۱۲۲ مورد رسید.

از سوی دیگر، پدیدۀ جرم در شهرهای بزرگ کشور رو به افزایش است. تعداد حوادث جرمی از ۱۳۴۵ حادثه در ربع اول سال ۱۳۹۴، به حدود ۱۷۷۹ در ربع اول سال ۱۳۹۵ تنها در کابل افزایش یافته است و از مجموع جرایم جنایی در سال ۱۳۹۵ هـ ش، ۴۹۵۰ حادثۀ آن تنها در کابل اتفاق افتاده است. در یک ربع اول سال جاری (۱۳۹٦) نیز این رقم در کابل بلند است و از مجموع ۵۰۴۷ حادثۀ جنایی، ۱۳۱۵ مورد آن در کابل به ثبت رسیده است. از جانب دیگر، جرایم شنیع مانند قتل و غیره از یک سال به سال دیگر افزایش یافته است. حوادث قتل در ربع‌های اول سال‌های ۱۳۹۴، ۱۳۹۵ و ۱۳۹٦ هـ ش، به ترتیب از ۵۳۸ به ٦٠٦ و ٦۴٠ مورد افزایش یافته است.

جنایت‌های شنیع و سرقت‌های مسلحانه

باشنده‌گان پایتخت کشور خاطرات تلخی از جرایم جنایی، چون قتل، سرقت‌های مسلحانه، اختطاف و غیره دارند که آرامش آنان را برهم زده است. به تازه‌گی پنج طفل یک خانواده که از چهار تا شانزده سال عمر داشتند، در منطقۀ وزیرآباد شهر کابل به گونۀ مرموز و بی‌رحمانه به قتل رسیدند. همسایه‌ها و نزدیکان این خانواده می‌گویند که قربانیان این حادثۀ المناک، نخست با تیشه به قتل رسیده‌اند و سپس جسدهای شان سوزانده شده‌اند.

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی نیز چند رویداد جنایی که در روزهای اخیر در برخی مناطق شهر کابل به وقوع پیوسته، مورد بررسی قرار داده است. میرویس باشندۀ شهر کابل که نخواست نام منطقه‌اش گرفته شود،

در مورد سرقت طلا و پول از خانهٔ همسایه‌اش، چنین می‌گوید: «چاشت بود، در خانهٔ همسایهٔ ما بدون خانم‌ها هیچ کسی دیگر حضور نداشت، چند تن در لباس نظامی آمدند و به بهانهٔ این که ما شک داریم در این خانه افراد مسلح نگهداری می‌شوند، باید تلاشی کنیم، داخل خانه شدند و همه طلا، پول و اشیای قیمتی را با خود بردند، وقتی مردم به پوستهٔ نزدیک امنیتی اطلاع دادند، آنان نیز هیچ‌گونه همکاری نکردند.»

داکتر فیض محمد مسؤول یک شرکت ساختمانی که در کابل زنده‌گی می‌کند، می‌گوید: «ساعت ده قبل از چاشت از نماینده‌گی یک بانک در میرویس میدان (کوتهٔ سنگی) پول گرفتم، از راه سرک سیلوی مرکزی به سوی سرک پوهنتون کابل در موتر خود در حرکت بودم که دو موتر مادل جدید هایلکس موترم را تقیب می‌کرد. از اینکه چندین بار موتر مرا قید کردند، شک کردم و خود را به سرک عمومی کوتهٔ سنگی _ دهمزنگ کشیدم، اما نارسیده به کارتهٔ چهار، در سر سرک عمومی روی موترم را قید کرد و افراد مسلح و ملبس با لباس‌های امنیت ملی از آن دو موتر پایین شدند، چند تن آن‌ها سرک را مسدود ساختند و چند تن دیگر شان شدیدا مرا لت و کوب کردند. وقتی بی‌هوش شدم، ۵۴ هزار دالر امریکایی را که از بانک برای مصارف یک پروژهٔ خود گرفته بودم، با خود برده بودند. به شمارهٔ ۱۱۹ حدود ده بار تماس گرفتم کسی جواب نمی‌داد، چند ساعت بعد برای گرفتن گزارش حادثه همراهم تماس گرفتند.»

یک منبع دیگر که نخواست نامش گرفته شود، به محقق مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی گفته است که در طول دو روز، دو حادثهٔ قتل را در روز روشن و در مکان‌های مزدحم مشاهده کرده است. وی می‌گوید: «پنج بجهٔ عصر در منطقهٔ کارتهٔ پروان کسی را کشته و در سر سرک انداخته بود. روز دیگر، در حادثهٔ مشابه یک نفر را در نزدیکی سیلو، روبه‌روی سرک پوهنتون کشتند و جسدش را در کنار جادهٔ عمومی دیدم، ولی از انگیزهٔ حادثه آگاه نشدم.»

چندین تن دیگر نیز از حادثه‌های سرقت موترهای مودل بالا در این اواخر از مناطق امن شهر کابل به گونهٔ مثال، از نزدیکی حوزهٔ پنجم پولیس سخن گفته اند که در برخی موارد صاحبان موترها در فیر تفنگچهٔ دزدان مسلح یا کشته و یا هم زخمی شده‌اند. اکثریت کسانی که در مورد حوادث جرمی و سرقت‌های مسلحانه به محقق مرکز معلومات داده‌اند، تاکید کرده‌اند که بیشتر شواهد نشانگر دخیل بودن منسوبین امنیتی مناطق مربوطه در این حوادث است که ممکن عملکرد ضعیف نیروهای امنیتی در چنین موارد، باعث چنین ذهنیت نزد مردم شده باشد. مسئله‌ی که مقام‌های امنیتی آنرا ادعاهای محض می‌خوانند.

حامیان و عاملین جرایم جنایی

موجودیت فساد اداری در نهادهای امنیتی، عدلی و قضایی یکی از مهم‌ترین عوامل میزان بلند جرایم جنایی در کشور است. بیشتر جرایم دلخراش چون قتل، اختطاف، دزدی مسلحانه و غیره مستقیما توسط حلقات مافیایی و گروه‌های سازمان‌یافته انجام می‌شود؛ ولی زمانیکه اعضای این حلقات و گروه‌های نیرومند دست‌گیر می‌شوند، به دلیل حمایت افراد بلندرتبه و بانفوذ در حکومت و اداره‌های دولتی، پس از مدت اندکی دوباره آزاد می‌شوند و به فعالیت‌های خود با اطمینان بیشتری ادامه می‌دهند.

از سوی دیگر، فقر و بی‌کاری نیز رابطهٔ مستقیم با افزایش جرایم جنایی دارد، چندی قبل بانک جهانی و دولت افغانستان مشترکاً گزارش وضعیت فقر و بی‌کاری در سال‌های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ میلادی در افغانستان را به نشر رساندند. بربنیاد این گزارش، میزان فقر و بی‌کاری نسبت به سال‌های قبل، افزایش یافته بود و ۳۹.۱ درصد نفوس افغانستان زیر خط فقر زنده‌گی می‌کردند.

این در حالی است که بعد از سال ۲۰۱۴م همه‌ساله در مناطق مختلف کشور جنگ رو به شدت است و صدها هزار جوان افغان نیز به دلیل میزان بلند بی‌کاری در کشور، مجبور به ترک خاک خود شده‌اند. به همین دلیل -با درنظرداشت نبود ارقام دقیق فقر پس از همین سال- به نظر می‌رسد که این معضل نسبت به سال‌های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ اکنون بیشتر شده و در افزایش جرایم جنایی نیز نقش داشته است.

راه‌حل‌ها برای کاهش جرایم جنایی

جرم پدیده‌ای است که نمی‌توان آنرا به کلی از یک جامعه محو کرد، ولی می‌توان اقداماتی را در نظر گرفت که وقوع آنرا به حد اقل رساند. از آنجاییکه در بیشتر موارد جرایم دلخراش جنایی در ساحات امن و به اصطلاح در زیر چشم نیروهای امنیتی صورت می‌گیرد، گمانه‌زنی‌های زیادی نزد مردم به خصوص باشنده‌گان شهرها وجود دارد که برخی منسوبین و مسؤولین امنیتی در چنین رویدادها دست دارند. به همین دلیل، از مداخلهٔ برخی زورمندان در گماشتن نیروهای امنیتی جلوگیری شود. در کنار این، اقدامات و راه‌کارهای موثر برای جلوگیری از فساد اداری در ارگان‌های عدلی و قضایی و نیروهای امنیتی روی دست گرفته شود، چون فساد در این ارگان‌ها از عوامل عمدهٔ افزایش جرایم در کشور می‌باشد. ارگان‌های ضد جرایم تقویت شوند و در کنار آموزش کارمندان این ارگان‌ها، معاشات آن‌ها نیز افزایش یابد تا میزان فساد اداری در این ارگان‌ها کاهش یابد. اقدامات جدی و عملی جهت اشتغال‌زایی روی دست گرفته شود، تا برای جوانانی که در اثر بی‌کاری دست به چنین وحشت‌ها می‌زنند، مصروفیت‌هایی ایجاد شوند. در کنار این، موقف حکومت و ارگان‌های عدلی و قضایی در برابر مجرمین جنایی سخت‌تر و محاکم علنی برگزار گردد تا از لحاظ شعوری تمایل مجرمین به ارتکاب جرم از بین برود و یا حد اقل کم شود. همچنان، یکی از راه‌هایی که در کاهش جرایم جنایی در جامعه کمک می‌کند، جلوگیری از نشرات مبتذل و مغایر با آموزه‌های دینی، قوانین و فرهنگ کشور در رسانه‌ها و بجای آن نشر برنامه‌های مفید و آگاهی دهنده در آن می‌باشد.

مسیر پیروزی

از میان فاجعه نمی‌گذرد!

عبدالوهاب هائد

سوگ‌مندانه، در دنیای مادی امروز، وحشی صفتان در کسوت انسان، با همه قدرت و زور و زر و نیرنگ، در پی آنند تا با هر وسیله‌ی ممکن و با هرقیمتی، اهداف نا میمون خویش را در کشورهای محروم و انکشاف نیافته‌ی جهان و در میان ملت‌ها و توده‌های مظلوم انسانی به غرض دست یافتن به سلطه و ثروت دنبال کنند و بی‌باکانه بر سینه‌ی هزاران انسان آزاده، خنجر زهرآگین ستم فرو کنند. آری! واقعیت همین است، که تبه‌کاران سیه دل می‌کوشند تا برای رسیدن به خواسته‌های نا مقدس شان از میان طیف‌ها و تیره‌های حریص، کم سواد، احساساتی و در جهل گیرمانده برای تحقق منافع شان ابزاری تهیه بینند و راه طولانی و صعب منتهی به هدف را، بدینوسیله کوتاه و کوتاه تر کنند که در نتیجه سلاله‌ی فتنه و خیانت قوت می‌گیرد و عقده‌های نهانی در درون توده‌های جاهل و زبون تازه تر شده و بنای بیداد و تباهی در یک سرزمین پی ریزی می شود.

از همین زاویه، افغانستان مظلوم سال‌هاست که قربانی امیال شوم و ناپاک قدرت‌های بزرگ جهان خوار، در تبانی با دار و دسته‌های خورد و کوچک مخلص شان در درون مملکت می‌شود. این روند نا مقدس جفا و جنایت در سرزمین ما چنان به‌گونه‌ی شدید و هولناک در حال به اجرا درامدن است، که شعله‌های سوزناک آتشش بی آنکه فروکش کند و یا از شدتش بکاهد، با گذشت هر سال و هر ماه و هر روز، بیشتر زبانه می‌کشد و بهترین داشته‌ها و سرمایه‌های این ملت را می‌سوزد.

جریان‌ها و کتله‌های عقده به دل و کینه توزی، که آتش کین و نفرتِ ناشی از افزون خواهی، انحصار گرایی، تعصب، تبعیض و تحزب و گرایش‌های تندروانه‌ی مذهبی و قبیلوی در درون شان شعله ور است، خواسته و نخواسته، ابزار گرم و آتشین دست بی‌گانه‌گان می‌شوند و به زعم خود شان به منظور براورده شدن اهداف و خواسته‌های که دارند، دست به عمل می‌زنند. این حقد و کین در ضمیر اینان باعث می‌گردد، تا بی‌قید و شرط، در اختیار غول جنایت قرار بگیرند و همانند موم، در چنگال منحوس آنان، به هر رنگ و شکلی در آیند.

این دسته از افراد، که در جهت آمال کثیف استعمار قافله‌ی جرم و جنایت را تشکیل می‌دهند، بنیادهای مهم و اساسی مادی و معنوی در کشور را نشانه می‌روند، می‌کشند، خون می‌ریزند، تخریب می‌کنند و فاجعه می‌آفرینند و تصور شان هم این است که می‌خواهند دشمن را عقب بزنند و برنامه‌هایش را سبوتاژ کنند. این مصیبت، گاهی به دفاع از دموکراسی و آموزه‌های بدنامش اتفاق می‌افتد، گاهی به دفاع از دین و دساتیر خدا باورش. اما افعال و کردار این مدافعان گمراه، پیش ازین‌که نمایانگر دفاع ازین ارزش‌ها باشد، مبیین فریب‌خورده‌گی و خوش خدمتی به کسانی‌ست که برای لحظه‌ی هم خیری به این کشور و مردمش را نمی‌خواهند و تا بتوانند، محکم‌ترین چکش را برای نابودی، بر فرق این مردم حواله می‌کنند.

کشتار بی‌گناهان و وحشت آفرینی در گوشه و کنار این کشور از هرجناحی در چند روز اخیر، اوج قساوت، بی رحمی و انسان بیزاری و ستم باوریی کسانی را به تصویر می‌کشد، که به زعم خود شان برای رهایی انسانیت از وحشی گری و نجات امت اسلامی مبارزه می‌کنند. قتل عام و نسل کشی‌های که در هیچ دین و مشربی و در هیچ عرف و فرهنگی، قابل توجیه نیست و نسبت دادن آن به اسلام و پیروان راستینش، جفایی‌ست بس بزرگ در حق اسلام و رهروان خداباور این دین رحمت و عزت و آزادی.

زیرا تیر باران کردن انسان‌های بی‌گناه، انفجار و انتحار در اماکن مقدسه، خشونت و کشتار و به چالش کشیدن امنیت عامه حتا در مساجد و اماکن عمومی، راهی نیست که به‌سوی پیروزی منتهی شود و مرتکبینش را به آنچه می‌خواهند، برساند. بنا برین، عاملان و تیوریسن‌های این طرح رعب و وحشت و خشونت باید بدانند، که مسیر پیروزی نه از میان فاجعه و کشتار؛ بل از میان صلح و سلم و یک دستی و از لای قلب‌های حریر و الم دیده‌ی مردم بیچاره عبور می‌کند. تنها گزینه‌ای که می‌تواند ما را از وضعیت کنونی بیرون کند، به وابسته‌گی‌ها و نیازها مان پایان دهد، عزت و آزادی و غرور ملی را به ما برگرداند، و ما را به عنوان امت مقتدر و صاحب شوکت به جهان بنمایاند، هم‌سویی با آموزه‌های انسان ساز شریعت و تن دادن به صلح و فشردن دست همدیگر است و هر اقدامی غیر از این، منتج به تباهی و نابودی همیشه‌گی خواهد شد.

رنګين سرابونه

څېړندوی رحیم الله حریفال

په يو ځای کې مې ولوستل چې ليکلي يې ؤ " د دنيا ژوند د هغې مرغۍ په شان دی چې يو څو شېبې د ګوري او شنې ونې په ښاخونو کښيني او له لږ شان چغيدلو وروسته بېرته الوزي او ځي "خو شته، ځينې داسې کسان چې دې لنډ او فاني ژوند ته يې پام نه دی او دومره په کې بوخت شوي دي چې آخرت تربنه هېر دی.

کله کله انسانان د رنګونو او خوندونو په دې فاني نړۍ کې دومره لاهو شي چې خپلو دينې او دنيوي مسؤوليتونو ته يې هم پام نه وي او ځينې وخت انسان بيا د وړو وړو عقدو او نيوکو له املې له ستر زيان او نقصان سره مخ کېږي. غربي نړۍ له مادياتو او ټکنالوجۍ پرته په معنوي برخه کې ډېر څه له لاسه ورکړي دي. کورنۍ نظام په نشت حساب دی، په اخلاقي برخه کې ګڼې تشې او مشکلات لري، غربيان د معنويت په ډګر کې د کمزوريو او کمبوديو له املې له روحي او رواني کړاو سره مخ دي.

يو څه، چې مورِ هم بايد پرې اعتراف وکړو، هغه د ټکنالوجۍ او مادي ژوند په ساحه کې د غرب ورځ تر بلې پرمختګ دی، چې انساني ژوند ته يې ګڼې اسانتياوې وړاندې کړي دي.

خو کله، چې مسلمان ځوانان غرب ته د زده کړو لپاره ځي او يا هم په يو ډول نه يو ډول په خپلو هېوادونو کې د غربي تمدن له دې مادي پرمختګونو څخه متأثره کېږي؛ بيا نو بدبختانه په پټو سترګو ډېر څه ورسره مني، پر دې منلو بسنه نه کوي ددې تر څنګ په مسلمانانو او بيا تر پردې لاندې د اسلام له سپېځلي دين سره يو ډول له ناپوهۍ څخه ډک چلند خپلوي؛ د يادې کړنې وجه نه يواځې له غربي مادي تمدن څخه اغيزمنتوب دی، بلکې يو څه رول په اسلامي هېوادونو کې متأسفانه د هغو ډلو او جريانونو د کړنو او کارونو هم دی چې د اسلام له سپېځلو لارښوونو او ارشاداتو څخه په واټن کې سرته رسيږي او يادو کړنو ته بيا غربي رسنۍ په لوړه تبليغاتي پيمانه انعکاس ورکوي او هڅه کوي، ترڅو دغو کارونو او کړنو ته د اسلام له سپېځلي دين سره تړاو ورکړي او د اسلام د مبارک دين پر وړاندې تړې د يوې ګټورې وسيلې په توګه کار واخلي.

هر عاقل انسان ته په کار ده، چې په پټو سترګو نه يو څه رد کړي او نه هم يو څه ومني ددې پرځای چې مورِ په ډېره آسانه د رسنيو او غربيانو تر تأثير لاندې رانشوو، په کار ده چې په رښتو سترګو څېړنه او پلټنه وکړو، د هېڅا عمل او کړنه بايد د يوه تمدن او دين استازی ونه ګڼو، مورِ بايد انسانان او د هغوی کړنې د اسلامي تمدن په رڼه او شفافه هنداره کې وګورو، چې د اسلام د سپېځلو لارښوونو په رڼا کې سرته رسيدلي او که له اسلامي اصولو او اساساتو سره په ټکر کې واقع دي.

متأسفانه د ځينو کسانو قضاوتونه سرچپه وي اسلامي اساسات او اصول د اشخاصو او ډلو ټپلو د کړنو په تياره او پيکه هنداره کې ګوري چې دا چاره هېڅکله هم د منلو وړ او مناسبه نه بريښي.

که غربيان او د غربي رسنيو مسؤولين دا کار کوي له هغوی نه خو ګيله نشته خو مسلمان ځوانانو او په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې په غرب کې زده کړې کوي او يا هم له غربي ماده پال تمدن څخه اغيزمن شوي دي نه ښايي چې په پټو سترګو د استعمار د اوږد مهالو پلانونو شعار او ناره ورسره بدرګه کړي، په ياد مورد کې د پراخې مطالعې په وسيله د شخصي او ډله ييزو کړنو او د اسلام د هر اړخيزه او کامل تمدن توپير سره وکړي؛ د خپلو وړو ــ وړو عقدو له املې خپل هر څه په اور لړه نه کړي ځکه واړه بڅری ستر ښارونه د اور په لمبو کې لولپه کوي او هر څه په ايرو بدلوي.

د يادې نقطې په پام کې نيولو سره بلې د يادولو وړ خبره دا ده، چې لوستي ځوانان بايد غربي تمدن له بېلابېلو اړخونو تر غور او څېړنې لاندې ونيسي؛ څه چې بشري ژوند ته ګټه لري هغه تړې واخيستل شي او کوم څه، چې بشر د هلاکت کندې ته غورځوي او د ژوندانه بنسټونه يې له منځه وړي رد کړل شي او خپلو ټولنو ته يې ضررونه او نيمګړتياوې په ګوته شي.

غربي تمدن هغو رنګينو سرابونو ته ورته دی چې که په سمه او دقيقه توګه يې د پېژندلو هڅه ونه شي او بې فکره د يادو سرابونو په لوري ور ودانګو خو کله يې چې په حقيقت پوه شوو هېڅ هم نه وي او خدای مه کړه داسې نه شي، چې د دې رنګينو سرابونو په لوري د بې خبرۍ په حال کې د خپل لنډ او فاني ژوند دښته او صحرا طي کړو او د دې رنګينو سرابونو د نندارې او وروسته بيا د پېژندلو په پايله کې خپلې ټولې معنوي لاسته راوړنې وبايلوو.د يو رښتيني مسلمان په توګه بايد د خپل سپېځلي دين په ارزښتونو او مزاياوو ځان پوه کړو؛ نه دا، چې په شعوري او يا هم په غير شعوري توګه د دښمن ژرندې ته اوبه واچوو او له غربي تمدن نه په متأثره شوو پوچو نظريو سره خدای مه کړه د نورو د ګمراه کولو سبب ونه ګرځوو او د يادې چارې ترڅنګ لازمه ده، چې په هر کار او هره هڅه کې له لوی الله (جل جلاله) څخه مرسته وغواړو، چې د سمې او درستې لارې د پېژندلو او بيا پر دې لاره د پاتې کېدلو استقامت را په برخه کړي، ځکه انسان کمزوری دی او چې د لوی الله (جل جلاله) فضل او احسان نه وي؛ انسان په خپل کمزوري او واړه عقل سره کله ــ کله په سرابونو د حقيقت خيال کوي او په دې ډول په لوی لاس ځان د تباهۍ کندې ته ور غورځوي.

habibi@eslahonline.net

گلگرګهای ادبی

دخترم! از این دام شیطان دوری نما

از سخنان سحرگونه و تعبیراتیکه از طریق پسته خانه ها "و راه های دیگری (مسیج های موبایل)" برا یت نوشته میشود، (و یا هم سخنان بسیار شیرین و رقیق از طریق تیلیفون برایت میگوید) دوری نما زیرا این نوعی دیوانگی است که گاهی به آن عادت مینمایي، و منجر به انحرافی میشود که راه گریزی برایت نمی ماند و بعضاً زندگیت را برباد مینماید زیرا قهرمان این کلماتِ بی فایدهٔ شیطانی با قلب و احساسات تو بازی نموده و بخاطر ازبین بردن بدنت، سوزاندنِ قلب و هتک حرمت ات نقشه سازی مینماید، چرا که قلب و بدنت را به ذکر پروردگارت و ایمان به وی، آباد ننموده ای تا آنکه آنها قادر به قتل تو و کاستن شخصیت و شرافت ات شوند. (دکتور سمیر یونس)

آیا مونږ هم چاته چانس ورکوو؟

حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه د مکې مشرکینو ته د یوې بوډې په لاس خط ولېږه تر څو د هغوی پر ضد د رسول الله صلي الله علیه وسلم له جنګي پلان څخه یې خبر کړي. کله چې رسول الله صلي الله علیه وسلم او ملګري یې ددې پوځي راز د لېږلو څخه خبر شول نو عمر رضي الله عنه وفرمایل: ای رسول الله! ما دې منافق ته پرېږده چې څټ یې په توره ووهم!!.. رسول الله صلي الله علیه وسلم یې په ځواب کې وفرمایل: ((ته څه خبر یې چې بېشکه الله د بدر ګډون کوونکو ته رابنکاره شوی دی او ورته یې ویلي دي چې څه مو خوښه وي ویې وکړئ، ما درته ببښنه کړې ده)). (بخاري او مسلم).

په ستونز د بریا نبوي نسخه

رسول الله(صلی الله علیه وسلم) په ستونزو د بریا اصول داسی بیانوی:

١- [احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ] د هغه څه په لټه کې شه چې ګټور وی،

٢- [وَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ] له الله تعالی نه مرسته وغواړه،

٣- [وَلاَ تَعْجَزْ] (لا تمل من المحاولة) نا امیده او ستړی کیږه مه او هڅه کوه،

٤- «وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلاَ تَقُلْ: لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا.. وَلَكِنْ قُلْ قَدَرُ اللَّهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ»! له دې نه وروسته که چیری تاته کوم زیان ورسیدې، نو دا مه وایه چې که چیرې مې دا کړی وه دابه شوی ول، بلکه ووایه چې الله چې څه غوښتل هغه وشول. (رواه مسلم).

دعاء
ته یې د بل لپاره او ملایکې یې ستا لپاره کوي

د مسلم شریف په یو حدیث کې روایت شوی دی، چې هر مسلمان، چې د خپل بل مسلمان ورور لپاره د خیر او ښېګڼې دعا وکړي، نو ملایکې د هغه له دعاء وروسته وایي، چې ستا لپاره دې هم عین شی وي، همدا ډول په یو بل حدیث کې راغلي دي، چې د یو مسلمان په غیاب کې نومورې ته دعاء ډېر زر قبلېږي، له دې معلومېږي، چې مسلمانان باید په خپلو منځونو کې سره څومره د یو بل خواخوږي او همدردي لرونکي، زمونږ د زمانې برعکس، چې هر کس د بل لپاره تباهي او د ځان لپاره آبادي غواړي، راځئ دغه الهي فرهنګ عاملو او دمسلمانانو ترمنځ دميني او محبت د رامنځ ته کولو عادت خپل کړو تر څو دواړه د کامیابی پر لور ولاړ او د دنیا او آخرت سعادت ترلاسه کړو.

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

معلوماتي

چهار ساعات عمرت

امام احمد بن حنبل از وهب روایت نموده که:
«در مکتوبات آل داود آمده است: حق آن است که آدم عاقل از چهار ساعت در عمر خویش غفلت ننماید:
- ساعتی که در آن به ذکر و مناجات با خداوند مشغول شود.
- ساعتی که در آن نفس خویش را مورد محاسبه قرار بدهد.
- ساعتی که با دوستان دلسوز و صادق خویش برای بیان عیوب و ضعف‌های یکدیگر خلوت نمایند.
- ساعتی که در آن همه لذایذ و امور مطلوب نفس خویش را ترک کند، زیرا این کار در این ساعت او را به عملی‌نمودن قیام به ادای آن سه مورد قبلی یاری داده و برای قلب او نوعی گردش و تفریح به حساب می‌آید»

د ښځې او خاوند ترمنځ د سختې رویې لاملونه

۱: ددیني انګیزی کمزوري.
۲: پر خپل ځان باندی بې اعتمادي.
۳: د (الرجال قوامون علی النساء) په مبارک آیات کې د قوامیت په سمه معنا باندی نه پوهیدل.
۴: په نا امنه سیمه کې ژوند کول، چیرته چې تل اخلاقي فساد خپریږي.
۵: د خاوند او میرمنی تر منځ د طبیعتونو نابرابرښت.
٦: د میرمنی سرغړونه او بی پروائي.
۷: دائمي کرکه او عناد.
۸: اقتصادي کمزوري او روحي فشارونه.
کولی شئ، خپله ستونزه په یادو کې همدا نن پیدا او دعلاج لپاره یې لاس په کار شئ

گناه غم و نیکی خوشی است!

گناه کاری درد است و کار نیک دارای احساس انسی است که فقط مومن آن را احساس می‌کند. در حدیث آمده که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمودند: «اگر گناهت باعث ناراحتی، و کار نیکت باعث خوشحالی‌ات شود مومن هستی» [صحیح الترغیب و الترهیب].
تغریدات شیخ طریفی

آیا شما هم تسلیم شیطان شده اید؟

شیطان از انواع وسائل و وسوسه‌ها استفاده می‌کند تا انسان را از نماز بازدارد و او را از لذت عبادت و اجر و ثواب محروم کند و بسیاری از مردم در این کار تسلیم وی شده‌اند، زیرا اولین چیزی که در عبادت از بین می‌رود خشوع است. در این عصر، که عصر آشوب و فتنه است، گفتار حذیفهt در این مورد صدق می‌کند که فرمودند: اولین چیزی که از دین شما از بین می‌رود خشوع، و آخرین چیزی که از بین می‌رود نماز است، و بسیاری از نمازگزاران هستند که خیری در آنها نیست و از نمازشان بهره‌ای نمی‌برند و ای بسا که داخل مسجد شوی و شخص فروتن و خاشعی را در آن نبینی.

د نواز شریف ګوښه کېدل پر پاکستان او سیمه یې اغېزې

څه موده وړاندې د پاکستان ستړي محکمې د پاکستان لومړی وزیر او د پاکستان «مسلم‌لیګ» ګوند مشر میا محمد نواز شریف د فساد په قضیه کې له دندې ګوښه کړ. په دې توګه تراوسه د پاکستان په ۷۰ کلن تاریخ کې هېڅ یوه لومړي وزیر هم خپله دوره نه ده بشپړه کړې.

د پاکستان ستړي محکمې وروسته له هغه دا قضیه وڅارله، چې د ۲۰۱۶ کال په اپریل میاشت کې د پاناما کاغذونه د رسنیو له‌خوا افشا شول او په دغو کاغذونو کې د پاکستان د لومړي وزیر اړوند افشا شوې قضیه د عمران خان په مشرۍ تحریک انصاف ګوند له تونډو نیوکو سره مخ شوه. که څه هم د لومړنیو معلوماتو له مخې، د ستړي محکمې له ۵ کسیزې ډلې څخه دریو یې د نواز شریف پرضد معلومات، کافي ونه ګڼل او پرېکړه یې د نواز شریف په ملاتړ ورکړه؛ خو ترڅنګ یې د ګډې پلټنې یوه بله ۶ کسیزه ډله جوړه شوه، چې د دوی د پلټنو له مخې ۵ واړو قاضیانو د پاکستان لومړي وزیر «صادق» او «امین» ونه بالله او له کبله یې ده په پارلمان کې خپله څوکۍ وبایلله.

که څه هم نواز شریف تراوسه د پاکستان د ستړي محکمې دغه پرېکړه ننګولې نه ده او د محکمې له پرېکړې سره هم‌مهاله یې استعفا ورکړه؛ خو د خپل لنډمهالي ځاینناستي په توګه یې شاهد خاقان عباسي د لومړي وزیر په توګه اعلان کړ، چې له پارلمان څخه یې د باور رایه هم ترلاسه کړه.

دا چې نواز شریف ولې او څه ډول له دندې ګوښه کړای شو، د پاکستان له اردو او استخباراتو سره یې اړیکې څرنګه وې، او په خپله پر مسلم‌لیګ ګوند، پاکستان او سیمې به یې اغېزې څه وي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته پرې شننه کوو.

نواز شریف او د پاکستان له نظامیانو سره یې اړیکه

که د پاکستان تاریخ ته ځیر شو، نو جوته به شي، چې دغه هېواد تل د ځواکمنو نظامیانو او کمزورې ډیموکراسۍ تر واکمنۍ لاندې پاتې شوی (په دیموکراتیکو حکومتونو کې یوازې د ذوالفقار علي بوټو حکومت ځواکمن و؛ خو هغه هم بیا د ضیاءالحق د پوځي کودتا له لارې ړنګ شو).

نواز شریف هم، چې یو ملکي سیاستوال دی، له دغه حقیقته مستثنا نه دی. دی په پاکستان کې درې ځله لومړی وزیر او دوه ځله د پنجاب وزیر اعلی پاتې شوی. په پیل کې یې د بریالیتوب عمده راز د ضیاءالحق ځانګړی ملاتړ و او د ۱۹۹۰ کال په پارلماني ټاکنو کې هم، د پاکستان د ځواکمنې استخباراتي ادارې آی ایس آی مشر، د بې‌نظیرې پرضد د نواز شریف له ایتلافي ډلې اسلامي جمهوري اتحاد سره مالي مرستې وکړې.

د څو کلونو له تېرېدو وروسته، د نواز شریف حکومت د پاکستان د ولسمشر غلام اسحاق خان په امر ړنګ شو. وروسته چې کله نواز شریف په ۱۹۹۷ کال کې بیا پارلماني ټاکنې وګټلې، نو په ۱۹۹۹ کال کې یې حکومت یو ځل بیا د پوځي کودتا له لارې ړنګ شو. دا ځل توپیر دا و، چې نواز شریف د پاکستان د لوی درستیز جنرال پروېز مشرف الوتکه په کراچۍ کې ښکته کېدو ته پرې‌نښودله؛ خو د نواز شریف دا هڅې ناکامې شوې او په پای کې د کارګل جګړې له بحران وروسته، جنرال مشرف د اکتوبر پر ۱۲مه په نواز شریف پوځي کودتا وکړه.

دی د مشرف له‌خوا زندان ته ولوېد؛ خو وروسته د سعودي په منځګړتوب جدې ته ستون شو. په ۲۰۰۸ کال کې بېرته خپل هېواد ته راوګرځېد؛ په ټاکنو کې یې برخه واخیسته؛

ګونډ یې په پنجاب ایالت کې حکومت جوړ کړ او په مرکزي کچه بیا له پیپلز ګونډ سره یوځای په ایتلافي حکومت کې ننووت؛ خو وروسته بیا له دغه ایتلافي حکومته ووت.

په ۲۰۱۳ کال کې د نواز شریف ګونډ یو ځل بیا پارلماني ټاکنې وګټلې او دی پکې د درېیم ځل لپاره د پاکستان لومړی وزیر شو؛ خو د ۲۰۱۷ کال په نیمایي کې له دندې ګوښه او د خپلې پنځه کلنې دورې بشپړولو ته پرې نښودل شو.

د نواز شریف په ګوښه کولو کې د پوځ رول

د پاکستان پخوانی لومړی وزیر نواز شریف د پاناما کاغذونو د افشا کېدو او همدې لامله د فساد په تور لرې نه کړای شو؛ بلکې دا له ۲۰۱۳ کال راهیسې له پوځ سره د نواز شریف د ټکرونو د کیسې پایله ده.

په ۲۰۱۳ کال کې مسلم لیګ (نواز شریف) د حکومت له جوړولو سره سم، د پخواني لوی درستیز ګربوان ته لاس واچاوه او محکمې ته یې راکش کړ. دا د پاکستان په تاریخ کې لومړی ځل و، چې د پاکستان لوی درستیز محکمې ته راکش شو. له همدې ځایه وه، چې د ۲۰۱۴ کال په منځ کې د عمران خان په مشرۍ تحریک انصاف ګونډ، د ۲۰۱۳ کال په پارلماني ټاکنو کې د درغلۍ په تور لاریونونه پیل کړل. دغو لاریونونو څو اوونۍ واخیستې او په پاکستان کې یې یو بحران رامنځته کړ. هغه مهال په پاکستاني رسنیو کې د «امپایر» ګوتې پورته کېدو ته ډېرې اشارې وشوې؛ خو څه ونه شول. له امپایر څخه د پاکستاني رسنیو موخه د پاکستان نظامیان وو.

دغه راز له ټاکنو وروسته، نواز شریف یوې هندې رسنۍ ته په مرکه کې وویل، په پاکستان کې پر نظامیانو د ملکیانو لاس‌بري اړینه ده او په پاکستان کې لومړی وزیر «باس» دی، نه لوی درستیز.

د دې ترڅنګ د پوځ او د نواز شریف د ملکي حکومت ترمنځ هغه مهال اختلافات لا ژور شول، چې کله نواز شریف وغوښتل، د پاکستان امنیتي او بهرنۍ چارې په خپل واک کې واخلي او د همدې موخې لپاره یې سرتاج عزیز د ملي امنیت او د بهرنیو چارو سلاکار وزیر وټاکه؛ خو وروسته نواز شریف د عمران خان د حکومت ضد لاریونونو پرمهال له پوځ سره روغه وکړه او د ملي امنیت سلاکار وزیر یې ناصر جنجوعه وټاکه.

له دغو بدلونونو سره سره، د ملکي او نظامي اداري ترمنځ اړیکې ښې نه شوې. وروسته، د پاکستان د ډان ورځپاڼې د یوه خبر له مخې، لومړي وزیر له پوځ سره په خپله کتنه کې د پوځ پر هغو تګلارو، چې له مخې یې پاکستانی پوځ له ځینو «تروریستي» ډلو د «پراکسي» ګټه اخلي، تونده نیوکه وکړه. دغه خبر وروسته د «ډان لیکس» په نامه یاد شو او پوځ د دغه خبر د افشا کېدلو له کبله پر ملکي حکومت سختې نیوکې وکړې. د پوځ د همدغه فشار له کبله وه، چې د پاکستان د اطلاعاتو وزیر یې استعفا ته اړ کړ.

د نواز شریف د ګوښه کېدو او یا په بله معنا استعفا تر شا هم نېغ په نېغه د پاکستان پوځ دخیل و؛ ځکه د ستړي محکمې له‌خوا چې د ګډې پلټنې لپاره کوم ټیم جوړ شوی و، یو غړی یې د آی ایس آی او بل غړی یې له نظامي استخباراتو څخه و. په ټوله کې دغه ټیم ٦ تنه غړي لرل او له همدې ځایه ده، چې د پاناما په قضیه کې به پوځ هم د نواز شریف په لرې کولو کې مهم رول لوبولی وي.

د نواز شریف د ګوښه کېدو او یا په بله معنا استعفا تر شا هم نېغ په نېغه د پاکستان پوځ دخیل و؛ ځکه د ستړي محکمې له‌خوا چې د ګډې پلټنې لپاره کوم ټیم جوړ شوی و، یو غړی یې د آی ایس آی او بل غړی یې له نظامي استخباراتو څخه و. په ټوله کې دغه ټیم ۶ تنه غړي لرل او له همدې ځایه ده، چې د پاناما په قضیه کې به پوځ هم د نواز شریف په لرې کولو کې مهم رول لوبولی وي

د نواز شریف د ګوښه کېدو اغېزې

په پاکستان کې به د نواز شریف لرې کېدل پر مسلم لیګ ګونډ او د دغه هېواد پر داخلي سیاست ژوره اغېزه وښندي. مسلم‌لیګ ګونډ د پاناما قضیې له پیلېدو راهیسې په داخلي کچه د اختلافاتو ښکار شوی. همدا لامل دی، چې تېره اوونۍ د پاکستان د کورنیو چارو اوسني وزیر او د مسلم‌لیګ نواز غړي چوهدري نثار علي خان پر ځینو وزیرانو نیوکې وکړې، چې د ده او نواز شریف ترمنځ یې واټن زیات کړی او دی په تدریجي توګه منزوي کوي.

له دې وراخوا، دا چې له واکه لرې شوی نواز شریف به څومره بریالی شي، چې له واکه بهر د مسلم‌لیګ ګونډ پیاوړی وساتي، هغه پوښتنه ده چې یوازې وخت به یې ځواب کړای شي. خو د هغه نواز شریف ګوښه کېدل به، چې په تېرو څلورو کلونو کې یې په ځینو مسایلو کې د پوځ ضد نظر درلود، د پاکستان پر داخلي سیاست د پاکستان د پوځ دریځ او کنترول نور هم پیاوړی کړي. د دې ترڅنګ به په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې هم، چې په ۲۰۱۸ کال کې به وشي، د مسلم‌لیګ نواز ګونډ بریالیتوب تر پوښتنې لاندې راولي او په ښاري سیمو کې به ښایي ډېر خلک رایه بل ګونډ، په تېره بیا تحریک انصاف ته ورکړي.

له بلې خوا، که څه هم د سیمې پر هېوادونو په تېره بیا افغان قضیه د نومورې د لرې کېدو په اړه ببلابېل تحلیلونه شته دي؛ خو د نواز شریف ګوښه کېدل به د بهرني ډګر په پرتله په داخل کې ډېره اغېزه وکړي؛ ځکه د پاکستان بهرنی سیاست او امنیتي تګلارې تر ډېره د نواز شریف په تېره څلور کلنه دوره کې هم د اردو او نظامیانو په لاسونو کې وې او له دغه بدلون سره به هم ډېر تغییر احساس نه شي.

اخوان المسلمین و ویژگی‌های دعوت آن

روش تربیتی و اهداف و مراحل دعوت اخوان المسلمین

(قسمت پنجم)

عزیز احمد حنیف

روش تربیتی اخوان المسلمین

دعوت اخوان المسلمین در جهت تربیت فرد و رسیدن به اهداف اصلاحی بلند اجتماعی در سطح ملی و بین المللی، وسایل مختلف را به کار می‌بندد که از آن‌جمله، «اسره»، «شب زنده داری»، «سیر وسیاحت آموزشی»، تدویر مُخَیَّم «اردوگاه»، مناقشه کتاب و هم‌چنان «زیارت قبرستان» و غیره می باشد.

الف: اسره، معنا و مفهوم آن

اسره در زبان عربی به معنای خانواده به‌کار رفته است که در چوکات حلقات تربیتی و آموزشی متشکل از چهار الی هفت نفر و گاهی بیشتر از آن را شامل می‌شود که هفته وار در یک زمان و محل مخصوص در کنار هم می‌نشینند و به درس‌های کوتاه آموزشی از سیرت، عقاید، فقه، تفسیر، تاریخ اسلام، رویدادهای جهان معاصر و مسایل مهم دیگر که در نصاب آموزشی یک‌ساله گنجانیده شده است، می‌پردازند.

افراد، در چوکات اسره‌ها دو یا سه مرحله آموزشی و تربیتی را که هریکی حد اقل یک سال را در می‌گیرد، سپری می‌نمایند و بعد از آن، به اساس گزارش شعبه‌ی مربوط در پیوند به تقوا، شخصیت، طرز دید، تلاش و تحرک در راستای پیشبرد دعوت اسلامی، وابستگی به حرکت و معیارهای لازم دیگر، به عضویت می‌رسند.

اسره، خشت اساسی بنای اخوان به شمار می‌رود که هدف آن، تعارف میان افراد، تربیت معنوی و بلند بردن سطح آگاهی فرد نسبت به مبادی اسلام و در عین زمان، احیاء و تقویت روحیه‌ی تعاون و بهم پیوستگی فرد با اجتماع بزرگ انسانی، می‌باشد.

اسره، مهم‌ترین وسیله‌ی تربیتی در اندیشه‌ی اخوان است که پیوند برادری میان افراد را بر مبنای روحیه‌ی ایمانی احیاء می‌کند، به مشکلات همدیگر از طریق آن رسیده‌گی می‌شود و هم‌چون دژ پولادینی است که فرد را از آسیب‌های مختلف اجتماعی در روند پیشبرد دعوت، می‌تواند مصئون نگه بدارد.

به همین لحاظ، اخوان تأکید می‌کند که رابطه‌ی هیچ فردی از اعضا در هیچ شرایطی، با اسره‌ها نباید قطع گردد، حتا در پشت میله‌های زندان یا بر عکس آن، در موقف‌های رسمی دولتی، مانند: وزارت، وکالت و غیره.

ب: شب‌زنده داری

شب‌زنده داری «قیام اللیل» یکی از برنامه‌های تربیتی اخوان است که در آن، اعضای یک شعبه در محل و زمان مخصوصی گرد هم می‌آیند و یک شب را به ذکر، وعظ، تفکر، تهجد و تلاوت قرآن کریم می‌پردازند. در این برنامه وقت کافی برای خواب نیز در نظر گرفته می‌شود.

شب‌زنده داری اخوان، با نشست‌های متصوفین و برگذاری حلقات ذکر دسته‌جمعی مشابهت نداشته، بل‌که زمینه‌یی برای محاسبه‌ی اعمال و بازگشت به‌خویشتن و قطع تعلق از مشغولیت‌های دنیوی و گیر و دارهای مادی است که فرد را از یاد خداوند متعال و حساب و کتاب میدان محشر و هم‌چنان زندگی برزخ و عذاب قبر غافل می‌سازد.

قیام اللیل، برنامه‌ی زیبایی است که پیوند افراد را در میان هم تقویت می نماید؛ بر اعتماد و محبت و نیرمندی رابطه‌ی برادری میان افراد حرکت، می‌افزاید و حال و هوای نفس و دغدغه‌هایی که باعث استرس‌زایی و نگرانی‌ها در روح و روان آدمی می‌شود، را از دهلیز دل می‌زداید.

ج: سیر و سیاحت آموزشی

یکی دیگر از وسایل تربیتی اخوان، سیر و سیاحت آموزشی افراد در فصل‌های مختلف سال است که در یک نظم و مدیریت خاصی برای یک روز، دو روز و گاهی بالاتر از آن، از طریق سفر از یک شهر به شهر دیگر انجام می‌شود.

تفریح و سرگرمی، صحبت روی قضایای مربوط به جهان اسلام، پایبندی به نمازهای جماعت، بلندبردن سطح تعارف و شناخت میان افراد، سهم‌گیری در فعالیت‌های اجتماعی مانند آشپزی، صفایی محل بود و باش، ایثار و فداکاری متقابل، برخورد نیک و نمادین با عامه‌ی مردم و تحت تأثیر قراردادن باشنده‌گان محل از طریق تعاملات اخلاقی و جلب توجه آنان به نظم ویژه‌ی دینی‌ای که در شخصیت فردی راهروان حرکت اسلامی متجلی است.

راه اندازی مسابقات ورزشی، مسابقات تیزهوشی، مشاعره و سرگرمی‌های آموزنده‌ی دیگر، از جمله‌ی ویژگی‌های بارزی است که در آجندای سفرهای آموزشی گنجانیده می‌شود و این مسایل، سفرهای آموزشی اخوان را نسبت به سفرهایی‌که از سوی نهادهای اکادمیک راه اندازی می‌گردد، تفکیک می‌نماید.

د: مُخَیَّم یا اردوگاه

یکی از وسایل تربیتی اخوان، گردهم‌آیی اعضا در محلی بیرون از شهر و به دور از غوغا و گیر و دار زندگی با ایجاد فضای ایمانی ویژه‌ای از فرماندهی و فرمان‌بری، عفو و گذشت، تواضع و ایثار، تقویه روحیه‌ی تعاون و تکافل، سهم‌گیری فعال در خدمات اجتماعی، شب زنده‌داری، بحث و تبادل نظر روی مسایل سیاسی، عقیدتی و فرهنگی عالَم اسلام، وعظ و اندرزهای ایمانی، تقویه روحیه‌ی محبت، صمیمیت، اخلاص و برادری میان اعضا، عادت نمودن به کم‌خوردن و کم‌خوابیدن، توجه و اهتمام به ورزش، تلاوت قرآن کریم، اذکار صبح و شام، بازنگری مسئولیت‌های ایمانی در قبال خدا، ملت و میهن و مسایل دیگری از این دست در این گردهم‌آیی به بحث و بررسی گرفته می‌شود.

در مخیم، افراد از زبان‌های مختلف، طبیعت‌های گونه‌گون، محیط‌های متنوع، سطوح تحصیلی متفاوت، رشته‌های آموزشی متنوع حضور بهم می‌رسانند اما یک وجه مشترک دیده می‌شود که در فرمان‌دهی و فرمان‌بری از مسئول برنامه، همه یکسان اند و هیچ تفاوتی میان خورد و بزرگ دیده نمی‌شود. هریکی نسبت به دیگر، خود را کوچک‌تر احساس می‌کند و هرطرف احترام و محبت، صدق و اخلاص، عفو و گذشت، تواضع و ایثار و فضایل اخلاقی دیگر به گونه‌ی زنده به چشم می‌خورد.

در این گردهم‌آیی ویژه که به‌طور معمول، سالانه یکبار برگزار می‌گردد، ارزش‌هایی مانند: برابری، قانون‌مداری، امنیت، احترام متقابل میان افراد، از میان برداشتن هرنوع تبعیض و تعصب، احساس یگانه‌گی ایمانی در شخصیت اعضا احیا می‌شود.

هـ: مناقشه‌ی کتاب

فرهنگ مطالعه و برگزاری مجالس مناقشه موضوعات کتاب یکی دیگر از وسایل تربیتی اخوان به شمار می رود که در مقاطع مختلف سال از سوی یک

شعبه و یا هم چند «اسره» در محل مخصوصی برای دوساعت و بالاتر از آن راه اندازی می‌گردد.
در برنامه، طبق پلان از قبل پیش‌بینی شده، معمولاً یکی از کتاب‌های فکری حرکت اسلامی، از سوی یک‌تن از استادان به بحث و بررسی گرفته می‌شود و سپس میان شرکت کننده‌گان و سخنران، در یک فضای علمی و سرشار از محبت و اعتماد، زمان پرسش‌ها و پاسخ‌ها فرا می‌رسد و در پایان از سوی یکی از اشتراک کننده‌گان، موضوع، جمع‌بندی و نتیجه‌گیری می‌شود.

و: زیارت قبور

رفتن به زیارت‌گاه‌ها با انجام سنت‌های تشریعی ویژه مانند تقدیم نمودن سلام به مرده‌گان، تأمل روی سرشت و سرنوشت جاودانی انسان، اندیشیدن در باره‌ی نعمت و عذاب برزخ، حساب و کتاب روز حشر، زنده شدن بعد از مرگ، ایستادگی در حضور الهی به نزد میزان و مشاهده کردارهای نیک و زشت که آدمی در دنیا انجام داده است، از جمله مسایلی اند که به هنگام رفتن به قبرستان در خاطر آدمی زنده می‌شود.
زیارت قبور، انسان را متوجه می‌سازد که انسان‌های نامدار، ثروتمند و کسانی که در روزگاری، تمام لذت‌های دنیا را چشیده اند، امروز در زیر آواری از خاک خاموش، خفته اند که آنجا نه ثروتی است و نه دولتی و نه حرمتی!
آنسوی دیگر، انسان‌های فقیر و بی‌نوایی خفته اند که در زندگانی دنیا، نه مال و متاع مادی‌ای داشتند و نه نام و شهرت اجتماعی‌ای؛ نه لذت نعمت‌های دنیا را چشیده‌اند و نه عظمت و حرمتی را به تجربه گرفته‌اند.
انسان مؤمن، به چنین فضایی نیاز دارد تا ساعتی باخود تنها شود و روی سرگذشت و سرنوشت خویش، سر به زانوی تفکر بنهد تا نشود که روزی بی‌برگشت فرا رسد اما توشه‌یی از دنیا با خود نبرداشته باشد و افسرده‌حال و پشیمان گردد؛ پیشیمانی‌ای که هرگز جبران نخواهد داشت.

اهداف و مراحل دعوت اخوان المسلمین

حرکت اسلامی اخوان، مراحل دعوتی خویش را برای رسیدن به اهداف مشخص، به هفت مرحله تقسیم نموده است که به‌طور کلی، از فرد آغاز یافته، خانواده را را در بر می‌گیرد، از مجموع خانواده‌ها ساختار اجتماعی را شکل می‌دهد و سپس به سوی مدیریت سیاسی از طریق گرفتن حکومت می‌پردازد و به همین ترتیب، وحدت امت اسلامی، حاکمیت اسلام بر سرزمین‌های از دست رفته و سر انجام، رهبری تمام جهان را شامل می‌شود. این امر از راه دعوت و تبلیغ و داشتن تشکیلات وسیع ممکن است که در هرمرحله از مراحل فوق، ابزار و وسایل ویژه، زمان لازم، منابع مورد نیاز، روش‌های مخصوص و رویکردهای متفاوت، نیاز است.

یک: تزکیه‌ی فردی

دکتور یوسف قرضاوی می گوید: «بیش از هرچیز ما در پی آن هستیم که انسان در اندیشه، باور، اخلاق، عاطفه و عمل، به راستی مسلمان باشد. این تکوین و تربیت فردی مورد نظر ماست». وی علاوه می‌کند: «برادری که به دعوت اخوان پیوند می‌یابد، از او خواسته می‌شود که به تزکیه و تطهیر نفس و بازسازی رفتار و تقویت عمل و روح و جسم خویش به خاطر آمادگی برای جهاد درازمدتی که در آینده در انتظار اوست، اهمیت جدی بدهد. (اخوان المسلمین، هفتادسال دعوت، تربیت و جهاد،ص۱۳۱-۱۳۵). «سوگند به نفس (انسان) و آن‌که آن را به خوبی ساخته و پرداخته و گناهان و پرهیزکاری‌اش را به او الهام نموده است. به‌راستی هرکس آنرا پاکیزه دارد، رستگار و کامیاب شده و هرکس نفس خویش را (با ارتکاب گناهان) بپوشاند و بیالاید، نا امید و ناکام می‌گردد. (الشمس:۷-۱۰).

دو: سلامت خانواده

پس از تزکیه فردی، دومین هدف، تربیت و تکوین خانواده‌ی سالم است که بدون آن ما نمی توانیم به‌سوی گسترش دایره‌ی اصلاحات اجتماعی حرکت کنیم؛ خانواده‌ای که آداب اسلام را در همه‌ی امور زندگی خانوادگی مراعات کند. در این رابطه باید در مورد حسن انتخاب همسر و آگاه نمودن او با حقوق و مسئولیت هایش و حسن تربیت فرزندان و بارآوردن‌شان بر اساس اصول و ارزش‌های اسلامی از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزد.

سه: ساختار ملت

پس از اصلاح و تشکیل خانواده‌ها بر مبنای ارزش‌ها و باورهای اسلامی، قلمرو تربیتی دعوت، به تدریج و به‌گونه‌ی منظم توسعه یافته و تمام شهرها و روستاها تحت پوشش قرار می‌گیرد. «ارشاد و هدایت جامعه از طریق نشر دعوت به خیر و نیکی و فضایل و مقابله با شر وبدی و رذایل و امر به معروف و نهی از منکر و پیش قدم شدن برای انجام امور خیریه و تلاش برای به‌دست آوردن هواداری مردم از تفکر بیداری اسلامی و آراسته شدن به زندگی عمومی به‌وسیله‌ی زیبایی‌های اسلام، جزئی از مسئولیت‌های اخوان المسلمین به عنوان یک سازمان اجتماعی می‌باشد». (همان،ص۱٤۷).

چهار: تأسیس حاکمیت اسلامی

به‌دنبال اصلاحات گسترده‌ی اجتماعی، به‌خاطر تنفیذ احکام شرعی و اقامه حاکمیت عدل الهی در سرزمین خدا که بزرگترین وجیبه‌ی دینی مسلمانان است، چهارمین مرحله از دعوت اخوان، ایجاد حاکمیت سیاسی در روشنی قوانین شرعی است. «حکومت اسلامی‌ای که مردم را به ایمان و عبادت تشویق نماید و با هدایت و رسالت اسلام به درستی آشنا سازد؛ آن‌چنان که اصحاب رسول خدا صلی الله علیه وسلم مانند ابوبکر و عمر و دیگر اصحاب با آن آشنا گردیدند و بار مسئولیت آن را بر دوش گرفتند. ما همه‌ی تلاش خود را برای احیای نظام حکومتی اسلام همراه با همه‌ی مظاهر آن و تکوین نظام اجتماعی اسلامی بر اساس آن، به کار می‌بندیم» (همان، ص۱۳۳).

پنج: احیای خلافت اسلامی

بعد از دست‌یابی به هسته‌گذاری حاکمیت سیاسی مستحکم بر مبنای عدالت، آزادی و مساوات انسانی در کشور و بیرون راندن واقعی قدرت‌های استعماری و کسب استقلالیت سیاسی اسلامی، وجیبه‌ی دینی دیگر مسلمانان از دیدگاه اخوان این است که در راستای احیای پیوندهای دیرینه‌ی فرهنگی میان سرزمین‌های اسلامی بادرنظرداشت چالش‌ها و فرصت‌ها، اقدام گردد. این امر به جز از راه احیای خلافت اسلامی به عنوان یک آدرس سیاسی بزرگ، ممکن و میسر نیست.
داکتر قرضاوی می‌نویسد: «به دنبال دست‌یابی به حاکمیت سیاسی اسلامی، تلاش خواهیم کرد همه‌ی اجزای میهن اسلامی را که سیاست غرب آنها را پاره پاره نموده و مطامع اروپا وحدت‌شان را از میان برده است به یکدیگر پیوند دهیم. بَر همین اساس ما تقسیم بندی‌های سیاسی و پیمان‌های بین المللی که میهن اسلامی را به کشورهای ضعیف و کوچک تبدیل نموده و آنها را به صورت لقمه‌ی سهل و ساده‌ای برای بلعیده شدن توسط استعمار گران غاصب در آورده قبول نداریم. ما هیچ‌گاه در برابر سلب آزادی این مردم و حاکمیت استبدادی دیگران سکوت نمی‌نماییم». (همان،ص۱۳۳).

شش: بازگردانیدن هویت بین المللی امت اسلامی

درصورتی که مسلمانان به احیای خلافت اسلامی دست یابند، مسئولیت آنها در این‌جا پایان نمی‌یابد، بل‌که سرزمین‌های دیگری که قرن‌ها مسلمان‌ها در آن حاکمیت داشته‌اند نیز باید دوباره آزاد گردد و قانون الهی در چوکات نیازمندی‌ها و مقتضیات عصر حاضر در آن‌جاها حاکم گردد. باید دریای مدیترانه و بحر احمر همچون گذشته به دو دریای متعلق به مسلمانان دربیایند. شاهرگ‌های اقتصادی از مرکز و شمال افریقا تا یمن و از آنجا الی ترکیه و شبه جزیره‌ی بالکان، و از آسیای جنوبی و حوزه خلیج تا آسیای میانه در دست مسلمانان باشد تا بتوانند در مارکیت اقتصادی بین المللی از بهره‌کشی بی حد و حصر قدرت‌های ستم‌گر جلوگیری کنند.

هفت: رهبری کُل عالم

در مرحله‌ی پایانی، دعوت اسلامی باید به سراسر جهان گسترش یابد و دست و پای بنده‌گان خدا به دور از کیش و مذهب و تبارهای سیاه و سفید، از قید و زنجیر قدرت‌های مستبد و ظالم نجات یابد و تمام افراد بشر از برابری مطلق، آزادی انسانی و عدالت واقعی برخوردار گردند.
این مسئولیت دینی مسلمانان است که نهادهای بین المللی به هدف خدمت‌گذاری در عرصه‌های مختلف ایجاد کنند و از راه خدمت‌گذاری صادقانه برای مردم جهان، عملاً نشان دهند که دین مقدس اسلام یک جهان بینی انسانی عدالت‌گستر برمبنای صلح جهانی، دوستی میان ملت‌ها، رعایت حقوق بشر و تمام اصول انسانی را با خود حمل می‌کند و هرنوع ظرفیت سیاسی، اقتصادی، علمی و تمدنی در چوکات آن وجود دارد.

په کورنیو ستونزو هوارولو کې

د خاوند مسؤولیتونه!

فضل الله ممتاز

که چېرې په یوه کورنۍ کې د خاوند او مېرمنې ترمنځ خفګان رامنځ ته شي او د دواړو تر منځ اړیکې ورځ تر بلی په خرابېدو شي؛ نو د خواشینۍ په داسې حالاتو کې د خاوند مسؤولیتونه څه دي؟

آیا یو ځیرک او هوښیار خاوند به د خپلې مېرمنې د هرې سرغړونې ځواب په کنځلو او رټلو کې لټوي او که لومړی به د قناعت داسې تګلاره اختیاروي چې اصلاً رټلو ته پکې هېڅ اړتیا نه وي؟

په شرعي لحاظ یو مسلمان ته نه ښایي چې له خپل مسلمان ورور سره تر درې ورځو زیات خبرې اترې بندې کړي؛ نو کله چې له یو عام مسلمان سره له درې ورځو څخه زیات خپګان په اسلامي سپېڅلي شریعت کې جایز نه دی؛ نو څه فکر کوئ چې له خپلې مېرمنې، خپلې ګرانې مور، پلار، ورور او بې وزلې خور سره چې درد مو یو، عزت مو یو او خوښي مو سره یوه ده، خبرې بندول به څومره بد کار وي؟

ددې لپاره چې کورنۍ تاوتریخوالی رامنځ ته نشي؛ یو ځیرک او هوښیار خاوند ته څه کول په کار دي، تر څو خپله مېرمن ببرته خپلو اساسي دندو ته متوجه کړي؟

دا او دېته ورته نورو پوښتنو ته به په همدې لیکنه کې ځواب ورکړو.

له بده مرغه زمونږ په ټولنه کې اعتدال او منځلارېتوب شتون نلري او داسې کورنۍ هم شتون لري چې په هغو کې کورنۍ تاوتریخوالی ورځنۍ خبره او دود ګرځېدلی وي، کله کله لیدل کېږي چې کله په یوه کورنۍ کې یوه مېرمن نافرماني وکړي؛ نو سمدلاسه د خاوند په ذهن کې دا راګرځي او فکر به کوي چې خپله مېرمن باید وډبوي، پرېوتې او سپکې خبرې ورته وکړي او په زور، قساوت او وهلو سره ېې باید خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړي، په دې صورت کې تر ټولو ناوړه چلند خو دادی چې ځینې وخت یو خاوند خپلې مېرمنې ته د کورنۍ د ټولو غړو پر وړاندې پوچ او پرېوتي کلمات کاروي او حتی د خپلې خور، ورور او نورو خلکو پر وړاندې خپله مېرمن ډبوي، په داسې حال کې یو ځیرکه او هوښیار خاوند د هرې سرغړونې ځواب په وهلو سره نه، بلکې د اختلاف په صورت کې یو لړ نورې لارې چارې لټوي تر څو مؤثرې او ګټورې تمامی شي او د قناعت داسې تګلاره اختیاروي چې اصلاً وهلو ته هېڅ اړتیا پکې نه لیدل کېږي.

ډاکټر هم د یو ناروغ د درملنې لپاره جراحي عملیات د وروستي حل په توګه کاروي او د هر رنځور لپاره د جراحي عملیاتو وړاندیز سم کار نه بولي، بلکې دا کار د روغتیایي قوانینو سره سراسر یو مخالف عمل ګڼي. جالبه خو لا داده چې ډېر ځل یو خاوند خپله مېرمن په خپله وډبوي، بیا ېې په خپله تر روغتون پورې هم یوسي، مالي لګښت پرې هم وکړي او له وهلو وروسته ورته د هغه لومړی کار داوي چې په نرمه لهجه ورته نصیحت پیلوي، په داسې حال دا چې دا کار د قرآني لارښوونو سره مخالف عمل دی، خو له بده مرغه زمونږ په افغاني ټولنه کې چې ډېر ځل د څپېړې ځواب په سوک سره ورکول کېږي، بنسټیز لامل ېې دادی چې زمونږ ډېر مسلمانان وروڼه د قرآني احکامو په اړه سمه پوهه نلري. دا سلیقوي برخوردونه دي چې کورنۍ تاوتریخوالی رامنځ ته کوي او آرام او سوکاله ژوند مو نور هم لالهانده کوي.(۲)

په دې لیکنه کې غواړو همدا ناسم باورونه او فکرونه سم کړو او د تاوتریخوالي د مخنیوي او د کورنۍ اصلاح د راوړولو په موخه خو ګټورې

مشوری له تاسو قدرمنو لوستونکو سره شریکې کړو.

لومړی مسؤولیت- له خپلې مېرمنې سره له یوځای کېدو دېډه کول:

که چېرې خاوند ووینې چې د هغه مېرمن خپل مسؤولیت او دندې په ښه توګه نه تر سره کوي؛ نو په دې لړ کې د خاوند مسؤولیت دادی چې د نصیحت او ښو خبرو په مرسته په هغې کې بدلون راولي، که چېرې دا ستونزه یوې داسې مرحلې ته رسېدلې وي چې د خاوند نصیحت په هغې کې مطلوب او اساسي بدلون رانه ولي؛ نو بیا د خاوند مسؤولیت دادی چې له دویمې وسیلې څخه ګټه واخلي چې دا وسیله په لاندې ډول سره غواړو واضحه کړو.

د خپلې مېرمنې د اصلاح او سمون لپاره د هغې سره له ځملاستلو څخه دېډه کول، دېر ځل له وهلو او توهینولو څخه دېر ګټور تمامېږي، دا مهمه نده چې د مېرمنې او خاوند تر منځ بیلتون دې څو ورځې یا څو اونۍ ادامه وکړي، بلکې مهمه داده چې په دې تاوتریخوالي کې وهل رامنځ ته نشي. دلته دا خبره د ګرانو لوستونکو پر وړاندې هم باید څرګنده کړو چې: هېڅکله هم زمونږ هدف د خپلې مېرمنې سره د یوځای نه ځملاستلو او پرېښودلو څخه دا ندی چې خبرې دې هم ورسره بندې کړای شي، ځکه اسلام هېڅکله هم نه غواړي چې د خاوند او مېرمنې تر منځ دې د محبت او خواخوږۍ نړۍ کنګل شي، بلکې دا غواړي چې د دوی په لاسونو جوړه شوې ځاله دې تل ودانه او په خپل حال ټینګه پاتې شي. که چېرې مونږ او تاسې قرآنکریم ته راوګرځو؛ نو جوته به شي چې هلته هم له هغې سره په بستر کې د یوځای نه ځملاستلو او پرېښودلو یادونه شوې ده، لکه چې خالق تعالی فرمایي: [وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ] سورة النساء ۳٤/ آیت. ترجمه: او له هغو مېرمنو څخه چې تاسې د هغوي له بغاوت(سرغړونې) څخه وېرېږئ؛(یعنې یقیني پوهه لرئ چې دوی ناغېړي او نافرماني کوي)؛ نو دوی ته تاسې نصیحت وکړئ(که چېرې په نصیحت سمې نشولې)؛ نو بیا د خوب په ځای کې ورسره مه ځملئ(او که چېرې ورسر ځملاستل مو غوښتل؛ نو خپلې شاوې ورته وروارووئ).

دلته زمونږ هدف دادی چې خاوند دې کوروالی ورسره نه کوي او خپله شا دې وروارووي، یا دې د خپل خوب بستره او بالښت واخلي او چېرته جلا دې ترې ځملي.(خو همېشه داسې ندي کول پکار چې ټوله کوټه یا د هغې لپاره ټول کور ورپرې ښودل شي، ځکه خاوند به حالات او د خپلې مېرمنې مصلحت هم په پام کې نیسي، داسې نشي چې په دې کار سره په ظلم، جفا او بې عدالتۍ کې راګیر شي).

دویم مسؤولیت- د خفګان اساسي لاملونه معلومول :

که چېرې یو خاوند غواړي چې له خپلې مېرمنې څخه خواشینی او خفه شي؛ نو د خاوند بل مسؤولیت دادی چې په دې صورت کې ددې خفګان بنسټیز او اساسي لاملونه چې تاوتریخوالی زیږوي ځانته معلوم کړي، یعنې داسې نشي چې ژور خفګان او مؤقت بېلتون راشي، خو علتونه او لاملونه بې دواړو ته معلوم نه وي او خاوند په خپله پر دې پوه نه وي چې ولې بې له خپلې مېرمنې سره اړیکې ترینګلې او خرابې شوې دي.

دا مسئله به پای کې په لړ نور وضاحت سره ښه څرګنده کړو. په شرعي لحاظ هم یو مسلمان ته نه ښایي چې له خپل مسلمان ورور سره له درې ورځو څخه زیات خبرې اترې بندې کړي؛ نو کله چې له یو عام مسلمان سره له درې ورځو څخه زیات خبرې کولو څخه په اسلامي سپېڅلي شریعت کې منع راغلي وي؛ نو څه فکر کوئ چې له خپلې مېرمنې سره چې ستا د ژوند ملګرې او شریکه ده خبرې بندول به څومره بد کار وي؟

درېیم مسؤولیت- یو لړ ګټور پروګرامونه په لاره اچول:

خاوند داسې هم کولی شي چې د خپلې مېرمنې د پوهاوي په خاطر یو لړ اکاډمیک (علمي) پروګرامونه په لاره واچوي؛ د مثال په توګه: که چېرې مېرمن بې لوستې وي؛ نو کولی شي چې یو داسې کتاب، مجله، مقاله چې په هغې کې د خاوند او مېرمنې مسؤولیتونو ته اشاره شوې وي ورته ډالۍ کړي. همداراز د کورنۍ تاوتریخوالي د راټیټېدلو په خاطر که چېرې مېرمن بې نالوستی وي کولی شي چې د یو لړ نورو زده کړنیز وېږوګرامونو څخه استفاده وکړي؛ لکه: د تلویزوني او راډیووي داسې پروګرامونو څخه استفاده وکړي چې په هغې کې د علماوو ګټورې ویناوې وي ورڅخه استفاده وکړي او ددې کار په نتیجه کې به د کورنۍ تاوتریخوالي ګراف ورو ورو راټیټ شي او له دې ډول ګټور پروګرامونو څخه کولی شي ټوله کورنۍ استفاده وکړي.

څلورم مسؤولیت- د خپلې مېرمنې په اصلاح کې له صبر او نرمۍ څخه کار اخیستل:

دا چې یو خاوند د خپلې مېرمنې څخه ښلیږي، د خاوند هدف دا وي تر څو د هغه په مېرمن کې یو ډول احساس راڅوندی شي او په دې فکر کې ولویږي چې خاوند بې ولې د تېر په څېر مینه، الفت او اُنس ورسره نه کوي؛ نو که چېرې پر مېرمنې باندې خپل خاوند ګران وي او رښتینې مینه ورسره ولري، مېرمن به بې په دې صورت کې خپلو تېروتنو او نیمګړتیاوو ته ژر متوجه شي، ځکه دا فِراق او بېلتون پر هغې باندې سخت تمامېږي او په دې توګه سره به په خورا نرمۍ سره د کورنۍ تاوتریخوالي مخه هم ونیول شي او اصلاح به هم رامنځ ته شي، البته د اختلاف په صورت کې خاوند او مېرمن باید هڅه وکړي چې په مشترکو نقطو سره یو بل پوه کړي او یو تفاهم ته پرې ورسېږي؛ نو په دې توګه سره به د دوی تر منځ شته اختلافات په ښه توګه سره پرته لدې چې یو د بل توهین او تاوتریخوالی پکې رامنځ ته شي هوار شي. په دې اړه د خاوند نورو مسؤولیتونو ته به په راتلونکو لیکنو کې ان شاء الله اشاره وکړو.

دین‌داری یا اخلاق‌گرایی

احمد فرید فرزاد هروی

دین‌داری امریست که در فطرت سلیم انسانی نهفته است. در حقیقت؛ خالق هستی، آفریننده‌ی انسان، در بدو آفرینش هستی بنا بر آنچه از هدف خلقت «خلیفه» در روی زمین داشته است، از انسان برای ایمان‌داری و ادای رسالت این‌جهانی تعهدی کامل گرفته است تا انسان در زنده‌گی‌اش، موجودی بی‌هدف نباشد. الله تعالی برای تأمین همه نیازمندی‌های مادی و معنوی حیات بشری مجموعه تعالیم راهبردی را در قالب «دین» برای انسان توسط صادق‌ترین انسان‌ها «انبیاءعلیهم‌السلام» ارسال داشته است. با این نگرش، دین مجموعه‌ای از جهانبینی است که دید انسان را نسبت به هستی، خودشناسی، خداشناسی و رسالت‌شناسی وسعت می‌دهد. این جهان‌بینی دارای دو بُعد تنظیم روابط انسان با خدا (رابطه عمودی) و روابط انسان با انسان (رابطه افقی) بوده که شامل اعتقادات، اخلاقیات، احکام و معاملات می‌شود.

حال؛ اگر تعریفی از اخلاق داشته باشیم، «اخلاق، مجموعه‌ای از اصول و ارزش‌هایی است که رفتار انسان را تنظیم کرده، و وحی آن رامعین می‌گرداند، و از بهر تحقق هدف وجود انسان در کره‌ی خاکی، اصول و ضوابطی را نهاده است»

هدف غایی اخلاق، این است که انسان با روش شناسی ارزشی، پایبندی به سلوک پسندیده و فضایل انسانی در تمامی رفتارهای فردی و اجتماعی خویش در جهت ادای رسالت الهی «خلیفه‌ی خدا بودن» به کمال و سعادت حقیقی در این جهان و آخرت برسد.

با یک نگرش کلی؛ در مفاهیم اسلامی، روح اخلاق‌مداری در تمامی تعالیم اسلامی نهفته است. در حقیقت رابطه‌ی گسست ناپذیری بین دین و اخلاق وجود دارد، طوری که اخلاق، بخشی غیر قابل تجرید از پیکره‌ی دین است. لذا، انسان نمی‌تواند دیندار (کامل) باشد و اخلاق‌مدار نباشد، و یا اخلاق‌گرا باشد، اما گرایش به دین نداشته نباشد؛ زیرا از بزرگ‌ترین اخلاق انسانی که رابطه با الله تعالی است، سرباز زده است. نمی‌توان اخلاق را بیرون از دین تصور کرد و یا دین را بدون اخلاق! زیرا اخلاق با دین تکمیل شده است: «إنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكارِمَ الأخلاق» (من برای اتمام [و نهادینه کردن] اخلاق بزرگوارانه، مبعوث شده‌ام).

اخلاق بدون دین، بدون پشتوانه‌ی استوار و نسبی است. هیچ معیاری به جز دین الهی نمی‌تواند پشتوانه‌ی ارزشی به اخلاق بدهد. انسان و به خصوص «انسان غربی» در عصر معاصر با تکبر در مقابل پروردگار خویش بر آنست تا تمامی شئون زنده‌گی خویش را به غیر از تعالیم الهی و براساس نگرش انسانی تنظیم کند و با رویکرد عرفی‌گرایی (سیکولاریستی) دین را در حیطه‌ی زنده‌گی فردی تحدید کند، لذا «عقل انسانی» را به جای خدا حاکم خویشتن خویش می‌کند و با اصالت دهی به انسان، به «انسان‌گرایی» یا (humanism) روی می‌آورد. در این مکتب، دین از همه امور زنده‌گی بشری؛ فرهنگی، اجتماعی، سیاسی، اقتصادی جدا تلقی می‌شود. اخلاق نیز با جدایی از امور ذکر شده و علم معاصر به عنوان مولفه‌ی جدا از دین تعبیر می‌شود. در این بین، یومانیست‌ها به جای دین و التزام اخلاق دینی به اخلاق انسانی و ایمان درونی تاکید می‌ورزند و آن را وسیع‌تر از دین می‌دانند.

استغنا جستن از وحی الهی و اتکا به «عقلی» که خود معیاری را برنتابد، همان تعبیر «هوای نفس» در قرآن‌کریم است:

أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلاً (فرقان/۴۳)

«به من بگو ببینم، آیا کسي که هوي و هوس خود را معبود خویش مي‌کند (و آرزوپرستي را جایگزین خداپرستي مي‌سازد) آیا تو وکیل او خواهي بود؟ (و مي‌تواني او را از هواپرستي به خداپرستي برگرداني و از ضلالت به هدایت بکشاني؟!).

اگر نگاهی گذرا به مکاتب انسانی غرب و نوع معیار برای ارزش اخلاقی بیاندازیم، تمامی نگاه‌ها به معیارهای نسبی و تراوش شده از ارزش ذهنی انسان است. برخی از مکاتب، معیار اخلاق را رای اکثریت قبول کرده‌اند، مکتب اصالت تسمیه (Nominalism)، معیار خوب و بد را نظر مثبت و منفی عام مردم به یک پدیده می‌داند و مکتب اصالت نفع، معیار خوب و بد را در سودمندی و لذت تعبیر می‌کند. از این منظر هر پدیده‌یی که سودآور و لذت‌بخش باشد، اخلاقی است و هر پدیده‌یی که درد و رنج‌آور باشد، غیر اخلاقی است.

با این وجود، اخلاق بازیچه‌ی هوی و هوس انسانی قرار می‌گیرد، طوری که اگر انسان‌ها توافق نمایند که یک پدیده خوب و اخلاقی است، آن را باید به عنوان یک ارزش اخلاقی پاس داشت و تمجید نمود و روز بعد اگر انسان‌ها بر بد بودن آن توافق کردند، آن پدیده غیر اخلاقی و قابل مذمت است. بر همین اساس، فحشا، ازدواج با حیوانات، همجنس‌گرایی، سقط جنین، سود و ربا و بسیاری از پدیده‌هایی که شأن انسانیت را در پست‌ترین حد ممکن تنزیل داده‌است، در دنیای مدرن امروزی به عنوان ارزش‌های اخلاقی مطرح شده اند. از این حالت چه تعبیری می‌توان داشت؛ جز «مرگ اخلاق»!

حال، پرسش این‌جاست که انسان اگر بخواهد، پایبند اخلاق، کمال‌گرایی و فضایل انسانی باشد، با چه معیاری می‌تواند اخلاق‌مدار باشد. اگر انسان خود را از دام تعصبات گوناگونی که ذهنش را مغشوش نموده و فطرت سلیم‌اش را کدر نموده، برهاند؛ چه معیاری ثابت‌تر از رهنمودهای الهی، خالق هستی و داناترین ذات به نیازهای مادی و معنوی انسان، است تا در زنده‌گی‌اش معیار تعیین کند!

شنیده‌اید که برخی از فرزندان مومن ما با تأثر از تهاجم فرهنگی غرب، گاهی بدون این‌که ابعاد معنایی کلمات شان را بسنجند، می‌گویند: «اخلاق، دین من است»، «انسانیت، برترین دین است» و یا «اخلاقی‌بودن مهم‌تر از دین‌مداری است»! چه چیزی این انسان را در برابر پروردگارش به تکبر واداشته است تا خودش را از رهنمودهای سعادت‌بخش اسلامی مستغنی بداند!

يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ * الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ (إنفطار آیات۶-۷)

«اي انسان! چه چیز تو را در برابر پروردگار بزرگوارت مغرور ساخته است و در حق او گولت زده است (که چنان بي‌باکانه نافرماني مي‌کني!). پروردگاري که تو را آفریده است و سپس سر و سامانت داده است و بعد معتدل و متناسبت کرده است».

کنفرانس:
اسلام دین اعتدال و میانه روی در هرات

اسلام دین اعتدال و میانه‌روی است، و تمام دستورات اسلام بر مبنای اعتدال استوار می‌باشد؛ اما متأسفانه امروزه عده‌ی از مسلمانان از مسیر اعتدال و میانه‌روی به حاشیه رفته و دچار افراط و تفریط شده‌اند.

به خاطر اهمیت موضوع، بخش دعوت و ارشاد جمعیت اصلاح – هرات (انجمن اخلاق و معرفت) به سلسله برنامه‌های روشنگرانه‌اش، کنفرانسی تحت عنوان (اسلام دین اعتدال و میانه‌روی) در سالن کنفرانس های انجمن اخلاق و معرفت به روز جمعه ۱۳ برج اسد تدویر نمود.

برنامه با گردانندگی استاد بصیراحمد دانشیار و تلاوت آیات قرآنی توسط قاری صاحب منیب آغاز گردید و در ابتدا دکتر محمد نعیم مسلم استاد دانشکده شرعیات هرات به ایراد صحبت پرداخته و در مورد اهمیت اعتدال و نشانه های آن بحث همه جانبه ارایه نمودند.

استاد مسلم در ضمن بیان اهمیت و جایگاه اعتدال در شریعت اسلامی، نشانه¬های اعتدال، عوامل انحراف از وسطیت و اعتدال و عوامل ثبات در مسیر اعتدال و وسطیت را مورد بررسی قرار دادند.

سپس محترم فضل احمد فاضل استاد دانشگاه هرات در مورد (افراط و تفریط) صحبت نموده و در آغاز به تعریف افراط و تفریط پرداختند.

استاد فاضل به نکوهش و مذمت افراط و تفریط در روشنایی آیات قرآنی و احادیث نبوی پرداخته و در اخیر راه های علاج افراط و تفریط را مطرح نمودند.

برنامه بعد از پاسخ به پرسش های اشتراک کننده ها، با دعائیه استاد ضیاءاحمد فاضلی به پایان رسید.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
مورخ ۸۸
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعارما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت درکشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

مرکز تشخیصیه
لابراتوار طبی سفیر

Safir Medical Laboratories

Safir Medical Laboratory Diagnostic Center

لابراتوار طبی سفیر
یک نام مطمئن در عرصهٔ
اجرا معاینات معیاری لابراتواری

هرنوع معاینات لابراتواری از قبیل بیوشیمی، سیرولوژی، روتین خون، ادرار، مواد غایطه، TFT,Semin Analysis پتالوژی و کلچر با سامان و لوازم مجهز و مدرن لابراتواری توسط دوکتوران و تکنالوجستهای مجرب با معیارات لابراتواری اجرا میگردد.

آدرس:

کابل، منزل دوم سپین زر پلازه، نزدیک سینما بهارستان کارته پروان.
۰۷۹۹۱۵۲۳۲۹-۰۷۷۲۱۲۸۵۸۳
غزنی: منزل دوم اپارتمان دوم فرخی هوتل بازار صرافی شهر غزنی
۰۷۰۰۹۲۸۴۹۸
لغمان: شهر مهتر لام بابا، مقابل ریاست برق مارکیت حاجی طاؤس
۰۷۹۹۸۷۸۴۲۳ - ۰۷۷۸۴۵۵۷۷۸
Email:
safirlab_kbl@yahoo.com

چینه
فابریکه تولیدی لوازم تشناب

اولین فابریکه تولیدی لوازم تشناب با پنج سال گرنتی

آدرس: پکتیاکوت، نساجی سابقه کابل
Cheena Sanitary Fitting industry
0789090677

واسکت دریشی
HANEEF TAILOR H.T.S
خیاطی و رخت فروشی حنیف ستایل
رخت فروشی و دوخت لباس با دیزاین کتلاک پذیرفته میشود

+93783000135 - +93795552296
/Haneef-Tailor
haneef.tailor.style@gmail.com
کلوله پشته بین چهار راهی ترافیک و گل سرخ

104.3 FM
رادیو صدای اصلاح
کابل | مزارشریف | کندز | بغلان | جلال اباد

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۷ ساعت نشرات در شبانه روز
شماره تماس: 0786945943